# ويړيا ګلونه

نور محمد شېدا

بسم الله الرحمٰن الرحيم

(د کتاب حقونه خوندي دي)


## د کتاب ضابطه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ويړيا ګلونه |
| شاعر: | نور محمد شېدا |
| پروف ريډنګ: | پروفېسر جهانزېب نسيم |
| د چاپ کال: | اګست ۲۰۱۵ء |
| شمېر: | پنځۀ سوه (۵۰۰) |
| بيه: | سل روپۍ (۱۰۰) |
| کمپوز او ډيزاين: | رحمت ديوان<br>0345-7030719 |
| خوروونکي: | سليم ادبي کاروان، ګلوزو. |
| د چاپ ځاے: | اعراف پرنټرز محل جنګی پشاور |

## د ملاوېدو درکونه:

يونيورسټي بک ايجنسي، خيبر بازار پېښور
د انور خان لالا دکان، پښتو اکېډمي، پېښور پوهنتون
د پښتو کتابونو هر لوے دکان

# ترون

د خدائے بخښلي

**پروفېسر سیف الرحمان سلیم صېب**

په نوم

چې صرف د کلي ګلوزو نۀ بلکې د ټولې پښتونخوا حسن ؤ.
د پښتو ادب نمر او د پښتون قام د پټکي شمله او زما مشر او ادبي استاذ ؤ.

او

د خدائے بخښلي محترم

**محمد زمان غمژن صېب**

په نوم

چې زما د کلي یو دیني سرمایه وه او د شعر او د اواز په وسیله یې د خلقو په زړونو کښې د عشق حقیقي جذبې راپارولي دي.

نور محمد شېدا

# د شېدا شاعري

نور محمد شېدا ما په وړومبي ځل د لنډۍ په يوه مشاعره کښې اورېدلے ؤ، عام طور باندې په مشاعرو کښې ډېر کم کلام په ما اثر کوي، ځکه چې هم هغه روايتي او زړه شاعري ده.

خو د نور محمد شېدا کلام چې مې واورېدو نو څه نوے شان اواز مو په ساده ساده ټکو کښې ډېرې د مطلب او خوند ناکې خبرې، ما وے خالي نۀ دے د اثره دغه ځوان.

شېدا غټې غټې علمي او کتابي خبرې نۀ کوي، په خپل ساده نظر معاشرې ته ګوري او په ساده او معصومانه ټکو کښې پرې تبصره کوي. نۀ فن کاري، نۀ استادي، صرف سادګي او په سادګۍ کښې چې کوم حسن وي هغه په ګل کارۍ کښې نۀ وي.

د هغې ورځې نه پس هر کله چې په يوه مشاعره کښې نور محمد شېدا وي نو زۀ ورته ښه غوږ ږدم، بلکې کله کله ورته حېران هم شم، داسې الفاظ او داسې قدرتي او بې ساخته انداز ډېر د کمو خلقو په شاعرۍ کښې وي.

د ټولو نه ځانګړې خبره پکښې دا ده چې شېدا د اسمانونو خبرې نۀ کوي، فلسفې نۀ بيانوي او دانشورې نۀ ښايي، بلکې د دې روان ژوند، چاپېره ماحول او خپلې معاشرې خبرې کوي او هغه هم غټې غټې نۀ بلکې وړې وړې خبرې، داسې وړې وړې خبرې

چې تقریباً د هر چا خبرې دي، د هر چا د زړهٔ خبرې دي، ولې چې د انسان ژوند هم د دغه وړو وړو خبرو نه جوړ دے. دا لوږه، دا تنده، دا ګراني، دا بېروزګاري، دا زور زیاتے او د معاشرې په رګ رګ کښې جاري بې انصافي، د هر چا مسئله ده. اسمان کښې څه کېږي، د زمکې لاندې څه وي، امریکه څه کوي، روس چرته دے، دې سره د عام سړي څه کار دے، عام سړي ته خو د سېر اوړو مسئله، د یو جام اوبو مسئله، د بجلۍ مسئله او د ګرانۍ یا مزدورۍ مسئله د ټولو نه لویه مسئله ده.

تر کومې پورې چې د اصلاح تعلق دے نو انسان هغه کوږ لرګے دے چې تراوسه دومره پېغمبرانو، رسولانو، نبیانو او کتابونو سم نهٔ کړو، نو یو شاعر به یې څه سم کړي، خو دومره ده چې شاعر یو څیز په ګوته کړي، بد ورته ووایي نو چې هغه کوم خلق خوږ دي، دردېدلي دي، ژړېدلي دي، د هغوي زړهٔ لږ ښهٔ شي او دا ډېره غټه خبره ده، خفه کول خو هر سړے کولے شي خو خوشحالول ډېر کم کم خلق کولے شي.

په جهان کښې به کم کم وي
چې هنر یې د کېمیا زده

سعد الله جان برق

# سريزه

هر کله چې چاته د چا د قد و قامت د ناپ تول کار په ذمه شي نو يو فيته راواخلي او د سر نه تر پښو او د يو اړخ نه تر بل اړخ يې په سيکنډونو کښې پته ولګوي چې دومره.

خو زۀ دې اديبانو ته حېران يم چې د کوم شاعر يا اديب د ادبي قد و قامت تول ته کښېني نو لويه سيپاره ډکه کړي او بيا يې هم پرې سود ونۀ شي او په اخر کښې لوستونکو ته وايي چې تاسو يې په خپل نظر هم وتلئ. ماته هم دا ډېر اسان کار ښکارېدو خو چې نن په خپله د نور محمد شېدا صېب دادبي قد و قامت اندازې لګولو ته کښېناستم نو ماته اندازه وشوه. آفرين شه او په اديبانو شه چې د قلم په څوکه کومه اندازه واخلي نو واقعي چې دغه ناپ تول د ډېرې ستاينې قابل وي. شېدا صېب د نن نه دوه کاله مخکښې وئيلي ؤ چې هر کله خپله شعري مجموعه چاپ کوم نو سريزه به پرې تۀ ليکې. چرته زۀ او چرته د شېدا بابا په کتاب سريزه، خو په مصداق د "الامر فوق الادب" مې غاړه کېښوده.

کۀ ورومبے د شېدا بابا په ذات خبره ونۀ کړم نو په شاعرۍ به يې خبره ډېره ګرانه شي. بابا هغه شاعرانو کښې نۀ دے چې وايي يو څۀ او کوي بل څۀ، د هغۀ په قول او فعل کښې ما تراوسه تضاد نۀ دے کتلے، چې څۀ يې په خولۀ وي، هم هغه يې په زړۀ. ډېر ساده باده انسان خو دومره درانۀ خويونه او عظيم کړۀ وړۀ لري چې سړے ورته حېران پاتې شي. د پښتون قام او پښتو ادب د پرمختګ لېواله دے چې څۀ

يې ګټلي هغه يې د پښتو له سره زار کړې دي او هغۀ سره نور څۀ دي چې د پښتو په جولۍ کښې يې ورواچوي، بس خو د هغه د ژوند سالمه سرمايه، ژوره مشاهده، خوږه او پسته ژبه، صفا او سوچه کردار، دغه هر څۀ رايو ځاے شوي دي او د نور محمد نه يې د پښتو او پښتنو شېدا جوړ کړے دے.

د پېښور ضلعې ګلوزي کلے به څوک نۀ پېژني، د لوے دانشور، اديب او شاعر خدائي بخښلي سيد سېف الرحمان سليم صېب کلے دے، نور محمد شېدا صېب د سليم صېب پوخ ادبي او نظرياتي ملګرے دے، ماته پکښې صرف دومره قدرې فرق ښکاري چې سليم صېب د متوسطې طبقې سره تعلق لرونکے يو ترقي پسند ادبي شخصيت ؤ او شېدا صېب د غريبې کورنۍ يو مذهبي فکر لرونکے او د طنز و مزاح په حوالې سره د لوړ مقام خاوند دے.

پښتانۀ اکثر خپل شاعران او اديبان د مرګ نه پس وپېژني او ستايي يې، خو د ډېرو کمو خلقو په شان شېدا صېب هم په هغه بختورو کښې يو دے چې په خپل ژوند پېژندلے شوے او ستايلے شوے دے. د ګړدې پښتونخوا شاعران يې پېژني او ولې به يې نۀ پېژني چې هغه د هر محفل رنګ او رونق دے. د پښتو مينې هغه هر ځاے ته رسولے دے، تر کوهاټ، درې، لنډي کوتل او نوښار وغېره پورې په تش جېب تلے راغلے دے. دا نۀ چې هغه کنجوستيا نه کار اخلي، د هغۀ غربت د هغۀ مجبوري ده چې هر ځاے ته په سائيکل ځان رسوي. دغه زوړ سائيکل هغه ته د ابلقي اس او د دې دور د هوائي جهاز نه زيات غوره دے، چرته او کله چې هم د پښتو ژبې، پښتو ادب او پښتون قام له فکر کښې څو لېواله لېوني رايو ځاے شوي دي نو شېدا بابا په سائيکل سور هلته ځان رسولے دے.

د شيدا بابا ادبي هلې ځلې هر چاته څرګندې دي، د هغه شاعري يو منفرد انداز لري، خلق وايي د مزاح شاعر دے خو زۀ وايم چې د مزاح نه زيات هغه د طنز شاعر دے، خو دغه طنز هغه د چا سپکاوي په اراده نۀ دے کړے، بلکې د اصلاح په نيت يې کړے دے. په مجموعي توګه هغۀ ته مونږ د طنز و مزاح شاعر وايو. دا خبره به ډېره غلطه نۀ وي چې هغه د ډاکټر نه ښۀ ډاکټر دے، ځکه چې ډاکټر د انسانانو د بدن د ساخت د رغولو او په ځاے کولو دپاره هغوي پسې چړې او قېنچيانې راخلي او ځيري يې، خو شيدا بابا د انساني رويو د اصلاح او سمي په خاطر صرف د مالګې مرچکي د استعمال نه کار اخلي. بس د ډاکټر په اپرېشن کښې د سړي د مرګ خطره ډېره وي او د بابا په اپرېشن کښې د رغېدو او جوړېدو چانسز او اميد ډېر وي.

د شيدا بابا شاعرۍ کښې مذهبي رنګ غالب ښکاري خو هغه هم زيات تر د مزاح په انداز کښې. د اشارو، استعارو او تلميحاتو استعمال يې ډېر په ځاے راوړے دے، رواني او برجستګي يې د کلام ښکلا ده. د لغو او بې مقصده ټکو او خيالاتو نه يې ځان داسې ساتلے دے چې لکه مار خوړلے چې د پړي نه اړخ کوي. پيچيده خيال يې هم ډېر په عام فهمه ټکو کښې بيان کړے دے او هسې هم بابا د ګرانو ټکو نه الرجک دے. د بل په شاعرۍ کښې يې هم بدي شي نو خپله به يې څنګه استعمال کړي. د ګرانو ټکو د استعمال نه تر خپله وسه ډډه ځکه کړي چې عوام پرې نۀ پوهېږي او شيدا بابا د عوامو د سطحې عوامي شاعر دے نو ځکه نورو ته هم په خپل منفرد انداز کښې څۀ دا قسمه خبره کوي:

د نر زويه ستا خو خپله ډکشنري ده
بس لفظونه ورټومبه په شاعرۍ کښې

نـور محمـده! چـې څـۀ لیکـې ځـان تـه ګـوره
پـه چا ځان نـۀ کـړې بمبـه پـه شـاعرۍ کښـې

د شېدا بابا شـاعري هـره تقاضـه د قـافيې او ردیـف لـړۍ نـه جوړوي، بلکې هر شعر یې یو اوچت خیال هم لري، څکه خو وايي چې:

چـې نـۀ خیـال او نـۀ ردیـف نـۀ قافیـه وي
لګـي خـومره عجیبـه پـه شـاعرۍ کښـې

دې وخـت کښـې د بابـا شـاعري ماسـره نشـته ګنـي د هغـوي د شاعرۍ نه به مې ډېر مثالونـه ورکړي وو. د انـا تـول فـرانس خبره چې "یو دیانتدار استاذ له دا پکار وي چې د دې نه زړې خبرې چې ښاغلو! زۀ به نن تاسو تـه د پېسـکلي راسـین یـا شیکسـپئیر پـه حقلـه څۀ وېنا کوم، پـه ځـاے دا ووایـي چـې زۀ بـه نـن تاسـو تـه د پېسـکل راسـین یـا شیکسپئیر په حقله خپل تاثرات بیانوم".

ما هم د شېدا بابا او د هغۀ د "ویړیا ګلونو" په حقله خپـل تـاثرات تاسو لوستونکو ته وړاندې کړل. تاسو هـم د نـاپ تـول اَلـه لـرئ، بسـم الله کـړئ او وګـورئ چـې شـېدا بابـا او "ویړیـا ګلونـه" پـه تلـه څـومره خېژي. زۀ خو فېل شوم، د اخلاص ویړیا ګلونـه، د شـېدا بابـا د فکـر و فـن سمسـور ګلونـه، زۀ خـو یـې د قـدر د انـدازې لګـولـو نـه عـاجز یـم، کېدے شي تاسو څۀ اخري او منطقي نتیجې ته ورسئ.

په ډېره مینه او مننه
ستاسو د ټولو د پېښو خاورې
**صاحبزاده اجمل احمد صادق**
جاله بېله، پېښور
۱۷، ۰۲، ۲۰۱۵ء

# د "ویړیا ګلونه" د مصنف پېژندګلو

څۀ شخصیتونه په خپل ژوند د څۀ قسمه کتاب د اشاعت نه مخکښې مخکښې په خاصو او عامو دواړو طبقو خلقو کښې د شهرت بام ته رسېدلي وي او یقیناً چې په دغو خوش قسمتو کښې یو زمونږ د نن شاعر نور محمد شېدا صېب هم دے. د شېدا صېب پېژندګلو لیکل ماته په ذمه شوې ده، کۀ یو خو د شېدا صېب دغه اصرار ؤ نو بل خوا اجمل صادق صېب هم په دې خبره ټینګ ؤ چې احمده! هر څۀ وي خو دا ستا حق هم دے او فریضه هم، کېدے شي د دوي خیال تر ډېره حده مناسب وي، ځکه چې په شاعرانو ملګرو کښې په جغرافیائي لحاظ شېدا صېب ته زما نه زیات نزدې بل څوک نشته او هم په دغه بنیاد څومره ناستې پاستې چې ورسره زا کېږي، کېدے شي دومره د بل کوم ملګري دا شرف په نصیب نۀ وي.

نۀ پوهېږم له کوم ځایه پېل وکړم، بس دا خو ټولو ته معلومه ده چې نور محمد یې نوم او شېدا یې تخلص دے. شېدا صېب په کال نورلس دوه پنځوسم (۱۹۵۲ء) کښې د پښتونخوا په مشهور کلي ګلوزو کښې ښاغلي نذیر محمد کره زېږېدلے دے. زیات تر ژوند یې هم دلته تېر دے، لکه د حمزه بابا یې سکول کښې زړۀ نۀ لګېدو، بس چې دریم جماعت یې پاس کړو نو سکول ته یې خبر اباد ووې، سکول یې پرېښے ؤ خو لکه د بابائے غزل یې لوست او لیک نۀ دي پرېښي او زړۀ به یې څۀ د سکول او مکتب سره لګېدلے

ؤ چې د غریبې کورنۍ سره یې تعلق ؤ او هم دغه غریبۍ چې د کومې پېښې سره وتړلو، نن هم هغه پېشه او هغه شېدا. په قوم اعوان دے او پېشه یې ترکاڼي ده، د څلور شپېتو کالو په عمر کښې یې هم شپه و ورځ په ځان یو کړې وي، کار کوي، د کار سړے دے او د کار سړي یې خوښ دي. کۀ خوشحال بابا د دستار سړي په شمار ګڼي نو شېدا صېب د کار سړي په شمار کړي دي.

شېدا بابا درمیانه قد لرونکے یو درونډ او خوږ شخصیت دے، ږیره کښې یې سپین زیات او تور ویښتۀ خال خال دي او ټولې دنیا ته لکه د نمر په یوه سترګه ګوري، ځکه چې ډېر پخوا یې د کار کولو په وخت کښې په یوه سترګه کښې څۀ پرېوتي ؤ چې له دغې وجې یې سترګه معذوره دے. په سترګو یې اکثر چشمې وي خو د لیک لوست باوجود په مشاعرو او محفلونو کښې خپل کلامونه د خپلې طاقتورې حافظې په زور زباني وایي. الله تعالیٰ ورته قابل ستائش حافظه عطا کړې ده، د خپلې شاعرۍ نه علاوه ورته د اکثرو شاعرانو شاعري یاده وي، خصوصاً په متقدیمینو کښې ورته د عبدالرحمان بابا جي صېب شاعري تقریباً ټوله یاده ده. ملنسار انسان او د ډېر خوږ طبیعت مالک دے، واقعي کۀ مونږ چاته یو مخلص، درویش صفت او مثالي مشر وئیلے شو نو هغه نور محمد شېدا صېب کېدے شي.

د ښاغلي اکثر کارونه په توکل شروع کېږي، محترم په وسائلو کم او د الله تعالیٰ په ذات زیات یقین ساتي، د خودداری یو ښکلې او سپېځلې نمونه ده، په سپینه ږیره هم د مزدورۍ سره تعلق ساتل یې د دغه خبرې ښکاره ثبوت دے.

د پېښور څۀ چې د ټولې پښتونخوا د ادبي محفلونو ښکلا او رونق ګڼلے کېږي او اکثر يې ملګري په شدت سره انتظار کوي. د سېف الرحمان سليم ادبي کاروان باني او صدر دے، د رڼا پښتو ادبي جرګې چئيرمېن او د غزلزار پښتو ادبي ټولنې، برق پښتو ادبي ټولنې، ترقي پسند مصنفين مستقل غړے دے. دغه شان د داؤدزي ادبي جرګې او رهبر ادبي جرګې هره غونډه يې په ځان فرض کړې ده.

د شېدا صېب شاعري خوږه او خوندوره ده او د حالاتو او واقعاتو 'ائينه ده، اوس زۀ تاسو ته د طنز و مزاح د شاعر يعني نور محمد شېدا صېب د شاعرۍ څۀ نمونې وړاندې کوم، په دې اوربدو سره چې تاسو يې د زړۀ په سترګو ولولئ او جاج ترې واخلئ چې شېدا صېب تر څومره حده د خپل چاپېرچل د پېښو په عکاسۍ کښې کامياب شوے دے.

روغ مې نۀ پرېږدي د بِل او د کرۍ غم
څۀ به وکړمه د خپلې ښاپېرۍ غم
غم ښادۍ کښې په سکون کښېناستے نۀ شم
همېشه وي راسره د مزدورۍ غم

هسې خو غم يو هم نۀ وي خو د غم نه تېښته هم ناممکنه وي، له دغې وجې شېدا صېب د غمونو سره غاړه غتې د ژوند هلې ځلې جاري ساتي.

په يو شعر کښې طنز و مزاح ډېر په ښکلي ډول او لکه د ملغلرو د تار په شان په يو تار کښې پئيلي، لکه:

خېر دے ډولې ماره کۀ درنه ده لږه غټه ده

نور په جنج کښې څۀ دي بس هم دغه زمونږ ګټه ده
او یا دا شعر:

د کرائــي کــور د ے، وروڼــو ســم ګــور د ے
ژونـد مـې پـه دار د ے، زړۀ مـې تـرې تـور د ے

د شېدا صېب زو ے محمد یاسین زما د ماشوموالي ملګر ے او دوست د ے، دغـې وجې نـه د ډېر نزدې نـه د هغـوي والـد صـېب یعني نـور محمـد شـېدا صـېب پـېژنم، ځکـه مـې د هغـوي پـېژنـد ګلو لیکلو ته غاړه کېښوده. نور ستاسو او د نور محمد شېدا صـېب د وړومبۍ شعري مجموعې د "ویړیا ګلونه" په مینځ کښې نۀ ځائل کېږم.

والسلام

**شبیر احمد احمد**

ګلوزي پېښور

# خپلې خبرې

دا خبرې د بل چا هډو کېدے نهٔ شي، هم زما خبرې دي، نو چې زما خبرې دي نو تاسو ټولو لوستونکو ته تقریباً زهٔ ښهٔ معلوم یم چې بې تعلیمه، بې سواده سړے یم او د بې تعلیمو خلقو د خولې خبرې به څهٔ خبرې وي، خو بس هسې یې خپل ځان هم کړولے وي او نور یې هم د ځان سره په منډه کړي وي.

ما به کتاب یا چاپ کولو یا نهٔ خو دې بعضو بعضو ملګرو ته خدائے خبر زما په شاعرۍ کښې څهٔ ښکاربدل چې راپورې انښتي وو چې شېدا! شابه که او زر که، خپله شاعري کتابي شکل ته راوباسه.

لږ وضاحت کول ضروري به وي چې ما شاعري څنګه او ولې وکړه، وخت راسره ډېر ؤ، وخت تیري دپاره مې کوله؟ نا وخت چرته ؤ، وخت خو راسره صرف دومره ؤ چې د خېټې اور سړولو له مې هم د وخت کمے محسوسولو، نو شهرت دپاره مې شاعري کوله؟ نا! شهرت خو په شاعرۍ کښې نهٔ وي، شاعرۍ کښې خو ټوله بدنامي وي نو بیا اخر څهٔ په ما خر پېښه ایښې وه چې دا شغل مې راپېدا شو.

سړیه! دا شغل نهٔ دے، دا خو ټول دردونه او اهونه دي، کریکې او څړیکې دي، زما او د قام د دردونو، اهونو، کریکو او څړیکو نه زما شاعري سازه ده. د سوز نه مې د ساز او د درد نه مې ستاسو او د خپل زړهٔ د ټکور د جوړولو هڅه کړې ده.

ستاسو د لوستونکو د ټولو نه مخکښې شکريه ادا کوم چې ما دومره برداشت کوئ او بيا ورپسې د سعدالله جان برق صېب، د اجمل صادق صېب، د شبير احمد احمد صېب، د سليم راز صېب، د خپل ورارۀ طارق او د کمپوزر رحمت ديوان صېب ډېر ممنون او شکر ګزار يم چې زما هر قسم تعاون او کومک يې کړے دے.

چې څۀ مې ليدلي دي هغې ته مې د شعر جامه اغوستې ده، نو کۀ زما شاعرۍ کښې څۀ کمے يا زياتے وي نو کۀ هر څو ستاسو د پښتنو د سيمې او د پښتون قام د ريښې ريښې ګرېوان او لمنې قيصه مې کړې ده نو يقين مې دے چې زما ټولې غلطۍ به تاسو راسره په سر سترګو منئ او کۀ څوک يې نۀ منئ نو زۀ خو چرته تښتېدلے نۀ يم، يو ځل نا، په بيا بيا به درنه بخښنه وغواړم او وغواړم څۀ، هم د اوس نه خپل خاورې او عاجز ورور شېدا تاسو نه بخښنه غواړي.

په اخره کښې د خپل ګران کشر او ښۀ شاعر شوکت علي خريکوال هم د زړۀ نه مننه او شکريه ادا کوم چې د دې کتاب په راټولولو کښې يې ماسره ډېرې سترې کړې دي.

ستاسو رښتينے خواخوږے

**نور محمد شېدا**

ګلوزي، پېښور

۲۴، ۰۲، ۲۰۱۵ء

# نعت شريف

تــهٔ مــې درد تــهٔ مــې درمــان يــې محمــد ﷺ!
تـــهٔ رحمـــت د کـــل جهـــان يـــې محمـــده ﷺ!

اولـــــين هـــــم اخـــــرين يـــــې معتبـــــره!
تـــهٔ نبـــي ﷺ اخـــر زمـــان يـــې محمـــده ﷺ!

تــهٔ رهبــر يــې تــهٔ غــم خــوار د کــل امــت يــې
بـــې مثالـــه قـــدردان يـــې محمـــده ﷺ!

نمر، سپوږمۍ، زمکه، آسمان چې رب پېدا کړۀ
دې نــه مخکښــې هــم عيــان يــې محمــده ﷺ!

تــهٔ رفيــق يــې تــهٔ شــفيق يــې تــهٔ آمــين يــې
پـــه امـــت خپـــل مهربـــان يـــې محمـــده ﷺ!

نــور محمــد د پــاک قــرآن پــه مخکښــې ژاړم
سرچشـــمه مـــې د ارمـــان يـــې محمـــده ﷺ!

●●●

# رحمان بابا

## ته د عقیدت پېرزوینې

د پښــــتو د ادب نمــــر عبـــد الرحمان د ے
شـــاعرانو کښـــې بهتـــر عبـــد الرحمان د ے

کـــۀ پـــه عشـــق کښـــې فقیـــر ؤ کـــۀ ملنـــګ ؤ
شهنشـــاه د لـــر او بـــر عبـــد الرحمان د ے

کـــۀ چـــا لار د عاشـــقۍ وي ورکـــه کـــړي
ګمراهـــانو لـــه رهبـــر عبـــد الرحمان د ے

کـــۀ چینـــه څـــوک د شـــعر کـــۀ دریـــاب د ے
د شـــعرونو ســـمندر عبـــد الرحمان د ے

نـــور محمـــد شـــېدا تـــرې زر ځلـــه قربـــان شـــم
تصـــوف کښـــې ســـخنور عبـــد الرحمان د ے

●●●

رحیمــــــه یـــــا ســـــتاره! خـــــالق پرورد ګــــاره
مــا بـــوځې میـــدنې تـــه، د یـــو ځـــو ورځـــو د پـــاره

مــا بوځـــه مـــدینې تـــه کـــړې پـــوره مـــې دا ارمـــان
عـــاجز غریـــب بنـــده یـــم د تلـــو نـــهٔ لـــرم تـــوان
تـــهٔ بـــوځې دغـــه ځـــاے تـــه مؤمنـــان مســـلمانان
قـــــادره باوقــــــاره! خـــــالق پرورد ګــــاره
رحیمــــــه یـــــا ســـــتاره! خـــــالق پرورد ګــــاره

مـــا بوځـــه مـــدینې تـــه پـــه مـــا هـــم شـــه مهربانـــه
ډېـــر پـــه عـــاجزۍ ســـره دا ســـوال کـــوم لـــه تـــا نـــه
په ژوند کښې مې یو ځل طواف نصیب کړې بیت اللّٰه نه
ناتوانـــــه یـــــم بســـــیاره، خـــــالق پرورد ګــــاره

شـــېدا نـــور محمـــد یـــم پـــه ګلـــوزو کښـــې بنـــدیوان
مالکـــه! تـــهٔ پـــه خپلـــه مـــې پـــوره کـــړې دا ارمـــان
مـــا بـــچ کـــړه زنکـــدن کښـــې د حملـــې نـــه د شـــېطان
خاونـــــده بـــــا اختیـــــاره! خـــــالق پرورد ګــــاره
رحیمــــــه یـــــا ســـــتاره! خـــــالق پرورد ګــــاره

●●●

اے د مُرسلانو په ټولي کښې سرفرازه
قربان دې د نامې شم محمد نبي ﷺ ممتازه

تهٔ چې رښا شولې تيارې د کفر ختمې شوې
ژوندۍ لوښه خښول داسې نخرې د کفر ختمې شوې
اے د کافرانو د لالچ نه بې نيازه
قربان دې د نامې شم محمد نبي ﷺ ممتازه

ارض و سما دواړه په مخ ستا پېدا شوي دي
واړه خبرويان درپسې ټول اقتدا شوي دي
شوې په لامکان لُطف اندوز د رب د رازه
قربان دې د نامې شم محمد نبي ﷺ ممتازه

نور دے کۀ سپوږمۍ ده، ستا جمال ته رسېدے نۀ شي
بل يو بنده رب ذوالجلال ته رسېدے نۀ شي
لاړې د معراج په شپه الله ته د حجازه
قربان دې د نامې شم محمد نبي ﷺ ممتازه

ستا راتلو سره د کِسرا ټول بُتان راپرېوتل
لات او منات هم عُزا حېران راپرېوتل
جهان شو منور ستا په راتلو دې امتيازه
قربان دې د نامې شم محمد نبي ﷺ ممتازه

●●●

روغ بــه نــهٔ شــي زمــا زړهٔ د عشــق د درده
ســتا د حســـن قرقــره زمــا پـــه ســر ده

د نور سبوري په پېوند مې ژوند تېرېږي
ورځ مــې يــو د عاشــورې يــو د اختــر ده

عشق پــه خولــهٔ د زوره ســوران خبــره نــهٔ ده
د عاشــق وې وچــې شــونډې ګونــه ذر ده

پـــه وفـــا دې زمـــا زړهٔ قائلـــه نـــهٔ شـــو
پـــه جفـــا دې تمـــامي دنيـــا خبـــر ده

زهٔ همــېش د خپــل اشــنا پــه رضــا ځمــه
پـــروا نشـــته دے کـــهٔ لاره د خطـــر ده

●●●

چې د زړۀ راز مې په خولۀ راشي غزل شي
د چــا مینــه پکښــې داســې الــول شــي

دواړه شونډې مې لګیا شي په شعرونو
چې سینه کښې مې یادونه په غوبل شي

غلــې غلــې، خــړ خــړ وګــوري چــا پېره
دواړه سترګې چې د اوښکو په تکل شي

پېغورونه په تالي کښې د تهمت خورې
دا سزا یې وي چې څوک د مینې غل شي

نــور محمــد شــېدا ولاړ یــم ورتــه ګــورم
چې ارمان مې د قسمت په ژرنده دَل شي

●●●

تـــوره غـــنم رنګـــه راځـــي
په مینه مینه مې تـر څنګـه راځي

نـۀ غـواړي خپـر د سـرو لعلونـو راځي
چمــن تــه سـپل لــۀ د ګلونــو راځــي
پــه محبــت پســې ملنګــه راځــي
تـــوره غـــنم رنګـــه راځـــي

لــږه زمــا دې خوشــحالۍ لــۀ راځــي
لــږه بــه خپلــې تســلۍ لــه راځــي
مثــال د شــمعې لــه پتنګــه راځــي
تـــوره غـــنم رنګـــه راځـــي

پــه مــا پســې کلــي پــه کلي راځــي
ترې نه قربان شم ښکلې ښکلې راځي
عاشــق غــورځېږي د ګړنګــه راځــي
تـــــوره غـــــنم رنګـــــه راځـــــي

غُنچــه د ګلــو د ګــل رنګــه راځــي
د نـور محمـد شـېدا پـه طمعـه راځي
خلاصه به نهٔ شم ستا د جنګه راځي
تـــــوره غـــــنم رنګـــــه راځـــــي

●●●

را ايسار کړې د دنيا دې ناچارو يم
تا ته په زارو يم الله

ډېر ارماني د هغه ښکلو مُنارو يم
تا ته په زارو يم الله

زۀ ډېر غريب عاجز انسان يم
شکر دے دا چې مسلمان يم
مشرف شوے په ايمان يم
زار او قربان دې د قراٰن يم
تا ته په زارو يم الله

زۀ ډېر بې حده ګنهګار يم
ژاړم په دې په قسمت خوار يم
ستا د کرم به اميد وار يم
په انتظار دې د رحمت په اشارو يم
تا ته په زارو يم الله

ســــــتا مدينـــــــه ده ډېـــــــره ښـــــکلې
ډېــــــر پـــــــرې مئـــــين دي ناليـــــدلي
ډېـــــر بختـــــــور دي ورلـــــــه تلـــــــي
ربه! په در کښې دې ولاړ پـه سترګو سرو يم
تاتـــــــــه پـــــــــه زارو يـــــــــم الله

●●●

چې په سترګو مې چشمې وي د نظر
يوه ښځه رانه نۀ پټېږي بشر

زۀ هم هغه رنګ د نوکو په سر ګرځم
لکه پېغله جينۍ ګرځي په هنر

زۀ زړېږم عشق مې ورځ په ورځ ځوانېږي
چې به څه مخه پېښېږي خدايږ خبر

د قسمت نه زۀ خبر وم زما ربه!
چې به دا کاڼي راځي زما په سر

ستا د مستو سترګو غشي راورېږي
چې په هر يو غشي لږم برابر

نور محمد شېدا د عشق کرښې شمارم
ځکه نۀ شمارم زخمونه د ځيګر

●●●

ښـځه هلـه پـه تولـه شـي
چـې سـم نـر تـه حوالـه شـي

ښـځې ټـولې پـه يـو رنـګ دي
شـکيله کـۀ غزالـه شـي

کلـه ونښـلي مـرۍ کښـې
کلـه غـوړه نوالـه شـي

خو چې دوه زړونه يو ځاے شي
بـس پـه خپلـه زلزلـه شـي

نـۀ يـې نـور چـا بانـدې کـار وي
نـۀ پـه خپلـه حوصـله شـي

محبـت سـپېرۀ روزګـار دے
سـړے ټـول خولـه خولـه شـي

نـور محمـد شـېدا ملګـرو!
حق حېـران ګوتـه پـه خولـۀ شـي

●●●

په تا کښې اوسي د کونېنو شهنشاه
ګمبدِ خِضرا زار شم له تا

شان دې بې شانه ډېر اوچت دے
په تا کښې پروت نبيﷺ حضرت دے
نازنين ګل دې د وحدت دے
الله مې درولـه يو ځلې خامخا
ګمبدِ خِضرا زار شم له تا

خوږ دے د هر چا نه شېرين دے
هم اولين هم اخرين دے
پاک رحمت اللعالمين دے
چې دے شفيع المذنبين خېرالورا
ګمبدِ خِضرا زار شم له تا

د هر مومن د زړۀ قرار دے
په مُرسلانو کښې سردار دے
خېرالبشر نبيﷺ تاجدار دے
الله د دۀ په مخ پېدا کړله دنيا
ګمبدِ خِضرا زار شم له تا

د نـــور محمـــد شـــېدا بيـــان دے
هـــزار بـــار شـــکر پـــه ايمـــان دے
ســـتا د ليـــدلو پـــه ارمـــان دے
خدايـــه! ســر مـــې کـــړه د زړۀ د مـــدعا
ګمبـــدِ خِضـــرا زار شـــم لـــه تـــا

پـه تـا کښـې اوسـي د کونېنو شهنشـاه
ګمبـــدِ خِضـــرا زار شـــم لـــه تـــا
●●●

# قطعه

د تـــورې شـــپې د تـــور څـــادر د لانـــدې
د تـــورو زلفـــو پـــه ځنګـــل کښـــې ګـــرځم

پـــه تـــوره شـــپه د تـــورو غرونـــو پـــه ســـر
د تـــورو ســـترګو پـــه تکـــل کښـــې ګـــرځم
●●●

یــا رحــیم، کــریم، وهابــه! تــهٔ مــدد وکــړه زمــا
یــا مُصَــبِب الاســبابه! تــهٔ مــدد وکــړه زمــا

تــهٔ احــد، صــمد، منــان یــې
تهٔ بادشــه د درست جهــان یــې
پــه بنــده خپــل مهربــان یــې
بــې ســواله بــې جوابــه، تــهٔ مــدد وکــړه زمــا

کــه هــر څــومره ګنهګــار یــم
اوس توبــه پــه اســتغفار یــم
ســتا د فضــل امیــدوار یــم
د خپــل فضــل د دریابــه، تــهٔ مــدد وکــړه زمــا

اے څښــتن د هــر باریکــه
مهربانــــــه او شــــــفیقه
بـــا اختیـــاره باتوفیقـــه
ما کړه خلاص د هر عذابه، تهٔ مدد وکړه زما
یــا مُصــبِب الاســبابه! تــهٔ مــدد وکــړه زمــا

●●●

په نامه د هغه پاک پروردګار
چې نۀ زوی شته نۀ يې مور شته نۀ يې پلار

په واحد وجود د کُل جهان بادشاه دے
هم غفور دے، هم رحيم دے، هم ستار

د هر ګل په هره پاڼه کښې ښکاره دے
په واحد وجود دے هر ځاے کښې بسيار

نۀ محتاج دے نۀ د هيچا حاجت مند دے
چې په کُن سره کېږي هر يو کار

نور محمد شېدا بخښنه ترې نه غواړم
په خاطر د محمد نبي ﷺ روئېدار

●●●

تورې جرابې، تورې جامې، تور مې څادر دے
تور لونګ يار دے، تمام کلے پرې خبر دے

اور مې ستا د مينې د زړۀ کور کښې لګېدلے دے
تور لالے زما دې تمامي کلي نه ښکلے دے

تک مې په جبين جانانه! ستا د مينې نمر دے
تورې تورې سترګې رب راکړي خماري دي

تورې تورې زلفې مې په سپين مخ راخورې دي
شپه مې د شبقدر د ورځې مې اختر دے

سره ګلونه ما په تورو زلفو کښې ټومبلي دي
تور بوټان مې خاص د پېښور نه راغوستلي دي

ديدن له به راځي په تور لالي زما باور دے
توره لوپټه مې ستا په مينه توره کړې ده

ټوله معامله مې د دنيا نه نوره کړې ده
قد مې د شېدا د زړۀ په وزن برابر دے

●●●

نـهٔ بـه دې سـحر معلـوم وي، نـهٔ بـه دې ماښـام وي
چې نـهٔ منې زړګيـه! بـس هـم دا بـه دې انعـام وي

ومنــه زړګيــه! هــو هــوا نــه بــس د ے صــبر شــه
هيڅ په لاس به در نهٔ شي، خراب به دې انجام وي

مهٔ تو يه اوښکې د عشق راز چې دې ښکاره نهٔ شي
کـار بـه د غمـاز وي او رېبـار خـوار بـه بـدنام وي

خبر غواړه د خدا ے نه هسې لاپې دوپړې مهٔ وايه
حسن داسې شے د ے چې يې هر سړ ے غلام وي

تا چې برملا پـه نـور محمـد شـېدا لاس ايښـے د ے
هســې نــهٔ اشــنا د غمــازانو درتــه پــام وي

●●●

غرقه دې کړم، ډوبه دې کړم، پـه عـالم کښې دې رسـوا کړمـه زۀ
یاره زما د زړۀ قراره! زما تا چې په ځان باندې شېدا کړمـه زۀ

عشـــق دې نيـــولے يمـــه اور تـــه
راشـــه زمـــا د زړګـــي کـــور تـــه
د تېنګـــې نـــۀ يـــم د هجـــر اور تـــه
تـــا ســـهېلو نـــه راجـــدا کړمـــه زۀ يـــاره! زمـــا د زړۀ قـــراره

ســـــوزم پـــــه اور د محبـــــت
تـــــا يادومـــــه هـــــر ســـــاعت
وســـه مـــې نشـــته پـــه قســـمت
په بې روحۍ دې وارخطا کړمه زۀ يـاره! زمـا د زړۀ قـراره زمـا

زمـــا محبـــوب زمـــا نګـــاره
زمـــا د خـــوږ زړګـــي قـــراره
راشـــه زمـــا د مینـــې يـــاره
فقير وم مينې دې بادشاه کړمه زهٔ، ياره زمـا د زړهٔ قـراره زمـا

چې سـتا د حسـن خدوخال ګـورم
چرتـه پـه داسـې سـړي فـال ګـورم
قسـمت کښې نازيـه اقبـال ګـورم
چې په دې رنځ دې مبتلا کړمـه زهٔ يـاره! زمـا د زړهٔ قـراره زمـا

●●●

# قطعه

مـنم چې د پښـتو ژبـه خـوږه ده او قـديـمـه ده
د خپلو د کرتب په وجه پاتې نـيم پـه نيمـه ده

ډېرو پښـتنو پـه داسـې غـاړې شـنـدې وکړلې
ژاړي مـــوره ده ســـلګۍ وهـــي يتيمـــه ده

●●●

تاسو په شریکه په صلا باندې وژلے دے
ځان له دعا وغواړه ډوډا خدا ے بخښلے دے

ډوډا به ځان ساتلو په دنیا کښې د غیبت نه
ځان یې اوچت نۀ ګڼلو هیچرې د اوچت نه
د اس په رنګ خبر نۀ ؤ اشنا د خپل طاقت نه
مال و سر یې تول په صداقت باندې بائیللے دے
ځان له دعا وغواړه ډوډا خدائے بخښلے دے

اول خو دې مجبور جلا وطنه دې په کډه کړو
بیا لکه د اوښ دې د رښا ورځې په بډه کړو
د خپل مفاد دپاره دې سترګو نه په ډډه کړو
تۀ به خدا ے ته څه وائې په څه دې مخ وینځلے دے
ځان له دعا وغواړه ډوډا خدا ے بخښلے دے

اوږدۀ نظمونه مۀ لیکه په دې ایتمې دور کښې
خلق ترې مطلب نۀ اخلي بس سبزي یې په اور کښې
څه چرته کښې غلے شانتې کښېنه په خپل کور کښې
هسې دې قلم فضول په ځان پورې تړلے دے
ځان له دعا وغواړه ډوډا خدا ے بخښلے دے

●●●

وراچومه سوزېږي یا تنور دے یا ژړنده ده
خلقه! زما ګېډه نهٔ ده، ورورہ! سمه کنده ده

مزدوري هم ضروري ده
بې شانه مجبوري ده
هر ځاے هم دغه حال دے، وایه کوم ځاے راځوړنده ده

انسان چې لفنګے شي
بس ورغړي منګے شي
کوزه به تري نه ښه وي، د قسمت سوړه یې بنده ده

فرهاده! ستا همت دے
هر کت کښې برکت دے
دا د نور محمد شېدا قیصه لږه بې خونده ده
خلقه! زما ګېډه نهٔ ده، ورورہ! سمه کنده ده

●●●

کـــۀ پـــه وزن لګـــي ډېـــر د جانـــان غـــم
خدا ے دې نۀ کړي رانـه هېـر د جانـان غـم

لکه زول ښـۀ پـه تېـزۍ کښـې چرتـه راشـي
شـي مـې زړۀ نـه راچـاپېر د جانـان غـم

نـۀ يـې حـد شـته، نـۀ پـه ژبـه بيـانېږي
د بيـــان تـــر حـــده تېـــر د جانـــان غـــم

شـــات شـــکرې کـــۀ د لُطـــف ذائقـــه وي
کړي په خولۀ کښې مې ګنډېر د جانان غم

دَوسـۍ پـه شـان مـې مخـه بانـدې واخلـي
نـور محمـد شـېدا کـړم ګېـر د جانـان غـم

●●●

هغه ژوندون د بې غمۍ مې خوار خجل شو
تصور ستا د يارۍ راسره مل شو

هسې پټ پټ د خپل ځان سره لګيا وم
خو چې تهٔ پکښې ښکاره شوې نو غزل شو

چې قسمت مې د ارمان ژرندې نه يوړو
خو چې زهٔ ترې خبرېدمه هغه دل شو

ستا په يو نظر کښې ګله! دومره زور ؤ
چې داستان مې د ژوندون پرې مکمل شو

خو چې دار د عاشقانو کله جوړ شو
ستا شېدا پکښې د ټولو نه اول شو

تهٔ بدل شوې درته ځکه بدل ښکارم
نور محمد شېدا په څه باندې بدل شو

●●●

داغ د عاشقۍ مې تهمت ستا په لمن شوے دے
زخم د زړۀ جانانه ځکه زولن شوے دے

خدا ے خبر چې کله به دا سیمه ترې وزګاره شي
رقیب د ظالم زوے راته په لاره کښې پلن شوے دے

زما او ستا دیدن ته د دېوال په شان ولاړ دے
هیڅ شے نۀ دے خو ما او تا دپاره تورزن شوے دے

غماز په ځان اخته په کرولو باندې سترے شو
ښه ده دا مردار چې د اول نه پمن شوے دے

●●●

زړګيــه! محبــت کښــې پــه رټلــو بانــدې څــۀ
ســوچ وکــړه د بــلال صــېب وهلــو بانــدې څــۀ

دا نــۀ چــې خوربېــدلو نــۀ د وســپنو نــه جــوړ ؤ
په عشق کښې د مجنون خوار په ويشتلو باندې څۀ

منصــور پــه ســر د دار د انــا الحق چغــه وهلــه
غاصــبه! ســتا د ظلــم پــه وژلــو بانــدې څــۀ

تــر اوســه دې د زور زېــر تفـٰـوت پکښــې ونــۀ کــړو
شــېدا ســتا پــه کــړو وړو ليکلــو بانــدې څــۀ

●●●

خدا ے دې وبخښه زما خوږمنې مورې!
په هر درد کښې تۀ زما د زړۀ ټکورې

ستا خوږې خوږې خبرې لکه وعظ
خاموشۍ کښې مې رڼا د زړۀ په کورې

هغه تا چې څۀ وئيل هغه رښتيا شو
تۀ د مينې کرشمه د سپوږمۍ خورې

هغه ستا د لاس طعام څومره لذيذ ؤ
که به ساګ که به پښتي وه که به سپورې

هغه تا چې په مخ مخ ښکلولو
نن يې اوښکې په مخ درومي که ګورې

زۀ هم تاپسې درځم دا مې ايمان دے
يو څو شپې ورځې به پاتې وي لا نورې

نور محمد شېدا چې ګرځمه بس ژاړم
خدا ے دې وبخښه زما نيازبينې مورې

●●●

چې مې زړهٔ مشغول د حسن په ثنا شو
يو اميد پکښې په خپله راپېدا شو

عاشقۍ مې ستورے کښېنود په تندي کښې
خو چې شپه د هجر تېره شوه سبا شو

عاشقي د سلېمان بادشاه غمے دے
د وخت ديو ورته په خپله په ګدا شو

روغ صحت د خدا ے لويه بادشاهي ده
نور پرېږده که څوک فقير شو که بادشاه شو

هره ورځ د اخرت په طرف درومي
نور محمد چې ستا په مخ باندې شېدا شو

●●●

# قطعه

خوږه یاره! چې خواږهٔ پکښې لږ زیات دي
یاره! شونډې دې شکرې دي که شات دي

تولو خلقو په جفا کښې ګټه وکړه
په وفا کښې هزارها تکلفات دي

●●●

# قطعه

که دې دواړه لاسه نهٔ وو په غوړو کښې
حرام شه که دې څوک شماري سړو کښې

که حرام حلال دولت درسره نهٔ ؤ
بې د جرمه به روان يې هتکړو کښې

●●●

د کرائــې کــور دے، ورونـو سـم ګــور دے
ژوند مې په دار دے، زړۀ مې ترې تور دے

منــډې وهــم خــو نــۀ پــوره کېــږي
کــه ســر پټومــه، پښــې بربنــډېږي
د ګرانــۍ زور دے، هــر خواتــه شــور دے
ژوند مې په دار دے، زړۀ مې ترې تور دے

یـــوه کوټـــه ده، د مجبـــورۍ ده
بِــل نــه بغېــر یــو نــیم زر کــرۍ ده
غریـب لـه زور دے، هـر خواتـه شـور دے
ژوند مې په دار دے، زړۀ مې ترې تور دے

په دې ګرانې کښې، لس زره بل دے
لا چاودے نۀ دے، سنګ دے که دل دے
رانه وېزار دے، پلار دے که ورور دے
ژوند مې په دار دے، زړۀ مې ترې تور دے

څوک به مې بوځي مشاعرې له
د نور محمد شېدا د زړۀ مېرې له
زما جانان دے، سم سړي خور دے
ژوند مې په دار دے، زړۀ مې ترې تور دے

●●●

# قطعه

چې په مېکپ اموخته شو هلکان
جينکو ترېنه لرې ډډې ته کړو ځان

بعضو غوټه کړې پونې د څټ دپاسه
لکه چرګه چې وهلې وي باران
●●●

يار چې يار وي نو د يار په نامه ځار شي
چې ځار نۀ شي بيا دې کنده کښې مردار شي

کۀ دې تږۀ کۀ دې تربور او کۀ دې ورور وي
نر هغه دے چې په سخته کښې پکار شي

د زړۀ سر کۀ ورته چايو سره کېږدې
بعضې بعضې مېلمه سم د سړي پلار شي

هر عاشق ساده باده وي د اول نه
خو چې ښۀ ډغرې وخري نو هوښيار شي

نور محمد شېدا بس دوه شعرونه واهي
چې پنځو شعرو نه زيات شي نو اچار شي

●●●

ډېر به ښۀ وي، که پېدا نۀ وي
کۀ پېدا وي چې بيا شېدا نۀ وي

ياره! کۀ تا راته خندلي نۀ وي
زۀ به د خلقو د خندا نۀ وي

ما به تري څۀ له تاوول لاسونه
ملګرو! سپي کۀ د لېلا نۀ وي

زۀ نور محمد شېدا کۀ نۀ وي مئين
دا سې به هر وخت په ژړا نۀ وي

●●●

ستا په ديدن مې زړګے يخ وي، تږے کېږمه نۀ
په بې رخۍ مې زړۀ څۀ ناخلي، وږے کېږمه نۀ

تۀ چې د نازه نه په ترس راته کاږۀ وګورې
دا زۀ ډېر ښۀ يمه چې روغ لېونے کېږمه نۀ

تمامه شپه ستا د يادونو سره لوبې کوم
کله ژړېږم کله خاندم، اودۀ کېږمه نۀ

چرته چې ستا د لېونو سترګې خبرې کېږي
همه تن ګوش ورته ولاړ يم، ستړے کېږمه نۀ

زۀ نور محمد شېدا د حسن د لذت په وجه
د تورو سترګو په ديدن باندې مړېږمه نۀ

●●●

دې دنيا کښې هر څوک څۀ نا څۀ بيمار وي
څوک وزګار وي، څوک همېش اخته پکار وي

څوک محنت او څوک ګدا کوي بچو له
څوک د هر څۀ ناخبره وي مالدار وي

څوک لاهو شي د اوبو په لوے درياب کښې
څوک د تندې مري د ګُټ پامتدار وي

هغه لوے در کښې به هر سړے پېش کېږي
خپل عمل به د هر چا په اوږو بار وي

پس د مرګه چې غرېږي زما سترګې
يا حبيبه! دا به ستا په انتظار وي

نور محمد شېدا که نۀ وي دې دنيا کښې
د کاغذ په مخ به پاتې دا اشعار وي

●●●

عاشقۍ دې په ما داسې چاره وکه
چې نۀ کټ کښې راځي خوب او نۀ په زمکه

چې وصال يې عالمونو ته مباح شو
اې هجرانه! د يار راشه ما اودۀ که

که پېدا نۀ وے دا غم خو به مې نۀ ؤ
ولادت نه خود خوشحال يمه په ورکه

يو نظر ديدن يې هم قسمت کښې نشته
خدايه! بل څوک بدقسمته داسې مۀ که

په شېدا غريب اوس دومره کرم وکړه
چې محشر کښې ترې دلبر ونۀ کړي کرکه

●●●

تـــل بـــه نـــهٔ وي شـــګفته ګلـــزار د عمـــر
پـــه قـــدم قـــدم لنـــډېږي لار د عمـــر

که څوک ناست دے، کهٔ روان، ویښ، کهٔ اودهٔ دے
ورځ ځـي شـپې، کلونـه ځـي پـه شـمار د عمـر

مسـیحا بـه یـې یـو سـاعت هـم ایسـار نـهٔ کـړي
کـوم سـاعت چـې شـي پـوره مقـدار د عمـر

کـهٔ هـر څـو یـې څـوک پـه لعـل او ګـوهر پېـري
خامخـا شـلېږي شـلېدونکے تـار د عمـر

څوک ماشوم او څوک ځوانۍ کښې راګوزار کړي
څـوک د مـرګ پـه طمعـه وي بـې زار د عمـر

نـور محمـد شـېدا! سـودا د عمـل واخلـه
تـــل بـــه نـــهٔ وي شـــګفته ګلـــزار د عمـــر

●●●

ښـــۀ د خونــد او ســرور ډکــه تمنــا يــم
هــم ربېــار يــم هــم رقيـب يـم هـم لـېلا يـم

د هـــر چـــا پـــه نظـــر نـــوې نـــوې لـــږم
هم ماشوم يم، هم زلمے يم هم بـوډا يـم

هـــر ســـړي تـــر خپلـــه وســـه کـــړم ابـــاده
وړے نۀ شي مـا، زۀ پـاتې د هـر چـا يـم

ټول وارۀ زاړۀ ځوانـان مـې غلامـان دي
زۀ وطـن يمـه هـم مـور يمـه هـم نيـا يـم

پـه خود څۀ چې لبوني مې عـاشقان دي
زۀ پېســـه ګويـــا پـــه ژبـــه د شـــېدا يـــم

●●●

هسې يم دې خپل قسمت ته فكر وړے
په ما فتح راځي د بل د غاړې پړے

ته په دومره مصيبت كښې په خندا يې
زه ژوندو خلقو كښې يم د قبر مړے

قبر هم د جنت ښكلې باغيچه ده
خدا ے دې نه كړه چاته كنده يا جوغړے

تور لحد د مومنانو ارام ګاه ده
شي دمه پكښې ايله د عمر ستړے

دا جهان او ژوندون دواړه فنا كېږي
هر انسان د ے خامخا د زمكې زړے

هر انسان به ذائقه د مرګ ضرور خوري
كه هر څو وي د اوچت خاندان غړے

نور محمد شېدا چې مخ شم ائينې ته
په ګنجي سر باندې نه پرېږدم تيكړے

●●●

انتخاب زړۀ مې د یو یار کړے دے
دا پته نۀ ده ما په جار کړے دے

دا زۀ منم پۀ دې منکر نۀ یم
ما د رقیب په سر ګوزار کړے دے

نن به معلومه شي چې څۀ به کېږي
چې په تنکي زړۀ مې اتبار کړے دے

راځه زړګیه! چې مشغول شو سره
نن مې د خپلو نه انکار کړے دے

پوهه پرې نۀ یم ښۀ دي او کۀ بد مې وکړه
چې مې د مینې پوخ اقرار کړے دے

کۀ سخته راغله خو په ما راغله
څۀ مې تاون د چا د پلار کړے دے

د نور محمد شېدا د زړۀ د پاره
نن ما د خپل حسن سنګار کړے دے

●●●

چې په زړهٔ مې کله راشي خيال د زلفو
تصور مې زنګوي په تال د زلفو

په ژوندون به له دې غم نه وزګار نهٔ شم
اندامونه مې شو ګېر په جال د زلفو

د دلال په واسطه مې يقين نشته
خپل به نهٔ شي هيچرې دلال د زلفو

زهٔ به غاړه د هجران لمبو ته کېږدم
په رښتيا کهٔ څوک ګڼي وبال د زلفو

نور محمد به ترې اويا ځله قربان شي
چا کهٔ راوړلو يو تار سمبال د زلفو

●●●

رنګونـه د شـفق غونـدې ځلېـږي د يـار سـترګو کښـې
زيـاتېږي زمـا مينـه او اوسـېږي د يـار سـترګو کښـې

زۀ بـه ولـې نـاز پـه خـوش قسـمته نصـيب نـۀ کـوم
خمار چې د جادو غونـدې چلېږي د يـار سـترګو کښـې

زۀ بـه پـرې نشـه نشـه تـر عمـره پـورې ګرځمـه
شراب د محبت چې راټوکېږي د يـار سـترګو کښـې

زۀ د يـار د سـترګو، يـار زمـا د سـترګو تـور دے
ژوندون مې د رنجو غونـدې تېرېږي د يار سترګو کښـې

د مينې په لالچ کښې چې نظر تـه سترګې غـوره شـوې
شـېدا بـه د نظر غونـدې غړېږي د يـار سـترګو کښـې

●●●

خوارۀ د شونډو په لفظونو باندې مۀ لګوه
مالګې زما په پرهرونو باندې مۀ لګوه

څۀ چې دې وکړه، ښۀ دې وکړه، ګله! ستا په خوښه
هسې تهمت په قسمتونو باندې مۀ لګوه

زما د زړۀ په وينو رنګ به تر ابده سرۀ وي
ګله! نکريزې په لاسونو باندې مۀ لګوه

هسې نۀ رنګ دې د سرو شونډو پرتاغره نۀ شي
نازکې شونډې پۀ ګلونو باندې مۀ لګوه

د نور محمد شېدا د صدق او وفا په خاطر
بلې لمبې په ديدنونو باندې مۀ لګوه

●●●

مور خو زما مور وه چې بې شانه حسن داره وه
ځــــومره ايمانــــداره وه
کـــان د محبـــت ؤ ټولـــه مينـــه مـــا د پـــاره وه
ځــــومره ايمانــــداره وه

هـــر کـــلام يـــې مـــا د پـــاره وعـــظ نصـــيحت ؤ
بـــې مثلـــه محبـــت ؤ
هـــر ځـــۀ چـــې بـــه يـــې وئيـــل ځرګنـــد کرامـــت ؤ
بـــې مثلـــه محبـــت ؤ
زار يـــې شـــم د خـــولې نـــه تـــر ابـــده روژه داره وه
ځــــومره ايمانــــداره وه

عاشـــقه پـــه قـــرٰان وه مشـــغله يـــې تـــلاوت ؤ
بـــې مثلـــه محبـــت ؤ
مـــرګ يـــې ؤ دوســـتانو کـــه يـــو زېـــرے د جنـــت ؤ
بـــې مثلـــه محبـــت ؤ
خولۀ يـې ډکـه د خندا وه پـه دعـا شـکر ګزاره وه
ځــــومره ايمانــــداره وه

يــو جمعـــة الـــودا د اوويشـــتمې فضـــيلت ؤ
بـــې مثلـــه محبـــت ؤ
کــړے د دنيـا نـه چې مـې مـور بـي بـي رحلـت ؤ
بـــې مثلـــه محبـــت ؤ
مور د نور محمد شېدا په ښـځو کښې هوښـياره وه
څـــو مره ايمانـــداره وه

●●●

ټېکسونه زیات شو دا به خان ورکې
کـۀ دا بــه هــم ټــول غریبانــان ورکــې

غوښــه پــه دوه ســوه شــپېتۀ روپــې ده
پــه دېرش روپــې ســبز الوګان ورکــې

باقي خو هر یو شے ویړیا ویړیا دے
خلــق پــه تلــه کښــې ایمــان ورکــې

د پاټــک ســبزي فــروش خــو پرېــږده
داغــي خیزونــه پــټ پنهــان ورکــې

غریب سړے کۀ په چا ځان تاوان کړي
پــۀ دۀ لا څــوک چرتــه تــاوان ورکــې

د نــور محمــد شــېدا خبــرې مــۀ اوره
د ملامتــې خولــۀ کښــې ځــان ورکــې
●●●

هســـي یـــم د زمـــاني ســـتم ظریـــف
سپیني ږیرې مې نوم خوښ کړو د ضعیف

شـاعري مـې رب خمبیـر کښـې ده اخښـلې
نور مې هیڅ نشـته پـه تـن کښـې د تعریـف

حـلال رزق پـه څـو بنـده کښـې حـلال کـړم
خــود پــوهېږم د خوارانــو پــه تکلیــف

همېشـه چـې د مظلـوم پـه مـرۍ ناست وي
هسـې خولـۀ بانـدې دې وایـي قـرآن شـریف

نـور محمـد شـېدا توکـل بانـدې لګیـا یـم
نـۀ مـې شـعر کښـې قافیـه شـته نـۀ ردیـف
●●●

# قطعه

بې ننګي دې په مخ داغ دے، داغ بدل کړه
ته شاهین یې تور وزر د زاغ بدل کړه

د رنګینې زمانې سره رنګین شه
ځان بدل، فکر بدل، دماغ بدل کړه

●●●

# قطعه

که د ګټې او تاوان خبره ده
د رقیب او د جانان خبره ده

که د مچ او جولا یو هومره وجود دے
د هندو او مسلمان خبره ده

●●●

زمانـــــه راغلـــــه د ګـــوتې او د کــــارتوس
پتـــــه نــــــۀ لګــــــي د نـــــر او د دووس

چـــې کارغـــۀ د ښـــاروني قـــدم ايـــزده کـــړو
خـــود د بـــاز جالـــه کښـــې کښېناســـتو ټپـــوس

ګيـــدړان د ورځـــې خـــود راځـــي پـــه کلـــي
ســـپو دوســـتي ورســـره وکـــړه پـــه پړپـــوس

دې دنيـا کښې هـر وګـړے خپـل نصيب خوري
کۀ څوک چائے څکي کۀ اوبۀ څکي او کۀ جوس

چې دې خدا ے مل وي ستا هيڅ كـولے نۀ شي
کـــۀ دښـــمن دې امريکـــه وي او کـــۀ روس

●●●

چې اخلاق د چا پيکه شي نو بدرنګ شي
سړيتوب نۀ په دولت شي نۀ په رنګ شي

زۀ چې چاته څۀ رښتيا خبره وکړم
اثر څۀ چې الټه ماسره په جنګ شي

چې د حق او باطل ځاے کښې ښکاره نۀ شي
داسې توره دې په قاش دننه زنګ شي

لکه مرغه چې دې ګېر کړي په قفس کښې
سر دې وخري که لاچې شي که لونګ شي

خو چې وتښتي نو لاړ شي کراچۍ ته
نور محمد شېدا چې خپل کلي کښې تنګ شي

●●●

# قطعه

اے د قوم بچيه! په ګرېوان ګلونه مۀ کوه
تۀ نر يې د هجرا او د زنان کارونه مۀ کوه

تۀ په مېکې نا په مزدورۍ به ښکلې ښکارې
داسې بې هوده او د خفګان کارونه مۀ کوه

●●●

# قطعه

کله پکښې تېل نۀ وي، کله سې ابن جي نۀ وي
داسې سړے شته چې په مازغو کښې يې چينجي نۀ وي

اوړۀ، غوړي، چيني پکښې پراتۀ وي بې حسابه
خو چې داسې ځاے کښې بند وي چې يې چاسره کنجي نۀ وي

●●●

چـې اوسـې پېښـور کښـې نـو اول غـم د ټکـټ کـوه
خلـق دې د لـوړې مـري خـو تـهٔ ورتـه کرکـټ کـوه

تـهٔ ورتـه کرکـټ کـوه چـې مـور درتـه خوشـحاله وي
خبـر دے کـهٔ بابـا دې د غمونـو ډکـه جالـه وي
تـا چـې د نـن کـار ورتـه پرېښـودے پـه سبا لـه وي
کوژدنـه بـه دې نـن سـبا کښـې ټـول عمـر اټالـه وي

بعضـې کـار ښـکاره کـوه او بعضـې بعضـې پټ کـوه
پـه خپلې بوډۍ مور او بوډا پـلار باندې غېرت کوه
تـهٔ خـو اوس زلمـے یـې مـزدوري او مشـقت کـوه
کهٔ داسې یار دې راشي ورلـه مالګـه کښـې شربت کوه
مــلا وتـــړه غـــزا تـــه اراده د شـــهادت کـــوه
کـهٔ ډرون حملـه راغلـه نـو ګـوزار پـرې د راکـټ کـوه
چـې اوسـې پېښـور کښـې نـو اول غـم د ټکـټ کـوه
خلـق دې د لـوړې مـري خـو تـهٔ ورتـه کرکـټ کـوه

د ځانـه نـاخبره دي پـه دي پـه دې ګرانـه ګرانـۍ کښېـږي
فـرق نـۀ کېـږي ملګـرو ! پـه هلـک او پـه جينـۍ کښېـږي
د ورانـــۍ خبــرې کېــږي پـــه ودانــه ودانـــۍ کښېـــږي
شــوق د کرکــټ راغلــو اوس زمــا پــه لېـونۍ کښېـږي
ږمــنځ پــه سـر کښېـږي ووهـه ابکشـن پـه سـګرټ کـوه
خلــق دې د لــوږې مــري خــو تــۀ ورتــه کرکــټ کــوه

●●●

# قطعه

د مجبــورۍ نــه د ګينټــې نــه مــې روپــۍ راوشــلولې
بدقســـمتۍ نـــه راتـــه ډېـــرې پخـــوانۍ وختـــې

د مائيکل جېکسن په شان دواړه شونډې سرې ګرځوې
د قـــوم زلميـــه! راتـــه تـــۀ هـــم ســـمه جينـــۍ وختـــې

●●●

چې سرو تربنه تراوسه څۀ جوړ نۀ کۀ
ښځې راووتې کرکټ پسې مېدان ته

ښځې ښۀ په حفاظت باندې پوهېږي
اوس به ډېر کپونه راشي پاکستان ته

چرګې خود د ويرې نۀ راځي بهر ته
پوډريانو کړه راوړې ده ډېران ته

ليډرانو ملا تړلې ده ملګرو!
وايي چې دا ځل مو لېږمه ګورستان ته

شنکيار يې چې پرې ښۀ ډکره کړه کړه
چتې هله پښې اړمې کړې اسمان ته

●●●

اې غريبه! چې کنبېنې په هره ځانګه
دا عادت دې د مارغۀ دې د خولې پړانګه

خو هم ستا په وجه داسې سرې راشي
نۀ يې لکۍ څوک رانيوې شي نۀ غړانګه

تاسو د فکر دې په خپله راځوړند کړو
ماته وايي چې سبا بېګاه پرې ځانګه

تۀ به يې څنګه په خبره عمل وکړې
چا که وې چې دغه سيند دې ورته دانګه

هر انسان په اشاره باندې پوهېږي
ځناور کله پوهېږي بې د ډانګه

نور محمد شېدا څۀ دومره ماشوم نۀ دې
چې کوته باندې پرېږدي د چا چړانګه

●●●

عاشقۍ دې کړم عبث په اور کباب
نۀ جادو مې لاس کښې شته او نۀ حساب

نۀ د خپلو نه ګيله کړم نۀ پردو نه
زما کار دے په اختيار کښې د وهاب

ياره! عمر دې د ګل مۀ شه هيڅ کله
هميشه اوسې تازه لکه ګلاب

کۀ زۀ پروت يمه د کاڼو په ازغو کښې
دا په عشق کښې سهل کار دے د ثواب

چې د مثال نه تېر شم سر په تا قربان کړم
عاشقانو کښې به هله شم حساب

نور محمد شيدا د زړۀ په وينو ليکم
کۀ مې خدا ے کاندي په دې کار کښې کامياب

●●●

ښــــکلي محبـــت مــــې پــــه انګــــار وســــوزېدۀ
د ســـــترګو مــــې نظـــر پــــه انتظـــار وســــوزېدۀ

شــمع تــر خپلــه وســه پــه رڼــا بانــدې مشــغول کــړم
مــوم څـــۀ لــږ بــاقي ؤ تــرې نــه تــار وســوزېدۀ

شــمار د ارمــانونو چــې مــې وکــړو تصــور کښــې
وجــود مــې خــود لمبــه شــو چــې دیــدار وســوزېدۀ

هر څوک راته رقیب دے، زۀ په چا رقیب معلوم کړم
د هجــر پــه لمبــو کښــې مــې دلــدار وســوزېدۀ

ځکــه نــور محمــد شــېدا پــه زوره زوره ژاړم
لمبــې خېــژي زمــا د مینــې ښــار وســوزېدۀ

●●●

ورکــه شــوه بورقــه خبــرې ټــولې د څــادر شــولې
پټــه شــوه پــرې پــوزه ترېنــه ســترګې رابهــر شــولې

بورقه او څادر څهٔ کړے، قېنچي کړي وينتهٔ هم ګرځي
څکــه زمــا ورونــو ټــولې لارې د خطــر شــولې

واچوئ بنګړي سرو په کور کښې لوښي ووينځئ
ښـځې شـوې ګاهکـانې د کـانونو بانـدې سر شـولې

دا چې په مکېز مکېز دکان کښې سودا خوښه کړي
واه نرمــې نــازکې چــې ملګــرې د بســتر شــولې

داســې اوتــې بــوتې وايــه تــا چرتــه اوربــدلي دي
څهٔ وايې شېدا! خيـال مې راځي جوړې اوتـر شـولې

●●●

د سړي خوار یې په جېب نۀ راځي برید
ښځه ځومره خوشحالېږي په خرید

موده پس ښار ته راغلې ده خاونده
د کاسمټېک دکان رانۀ شي په دید

نور کۀ هیڅ نۀ وي دښمن ترې خبر نۀ شي
چې په خولۀ باندې لاس کېږدي شېخ فرید

خرڅ مې نۀ کړي په خپل ځان باندې ویرېږم
غصه ناکه سمه لور ده د یزید

نور محمد یې په علاج باندې پوهه نۀ شوم
کۀ فیسونه مې پرې وکړۀ میم مزید

●●●

خپـــر د ے ډولـــي مـــاره کـــۀ درنـــه ده لـــړه غتـــه ده
نـور پـه جنج کښې څۀ دي بس هم دغـه زمونږ ګټه ده

نشـت نـۀ مـوزي ښـۀ وي کـټ پـرې ډک وي خلـق وایـي
دا بـــه څـــۀ خـــدمت وکـــړي پـــه خپلـــه ســـمه ختـــه ده

د دې خدمت بـه کـړي چې یـو ذره درنـه مانـده نـۀ شـي
د جنـــګ دپـــاره ښـــه ده خـــو کـــار دپـــاره لتـــه ده

خدا ے دې ورته خبر کړي چې هډوکي پکښې مات نۀ وي
چـــا راتـــه وئیـــل راپرېـــوتلې نـــن د کتـــه ده

ســـودا د یـــو ورځ نـــۀ ده، د تمـــام عمـــر ســـودا ده
ځکـــه نـــور محمـــد شـــېدا تـړلـــې مـــلا پـــه پتـــه ده

●●●

ما په سترګو سترګو او اشنا په سترګو سترګو کښېږي
وکړه د رقيب مخکښې خندا په سترګو سترګو کښېږي

ما په سترګو کښې اشنا ته داسې ووئيل
مينه به ساتم همېشه ستا په سترګو سترګو کښېږي

زۀ به درته ولې د ګولو باران کښې نۀ ګورم
تۀ چې ورکوې مينې له ساه په سترګو سترګو کښېږي

ماته کۀ رقيب د زماني لالچ راوبخښي
زمونږ مينه پخه شوه خامخا په سترګو سترګو کښېږي

بس دے نور محمده! نور د چا سترګو ته مۀ ګوره
څه کوه د مينې مشغولا په سترګو سترګو کښېږي

●●●

زړګـــي چــې مـــې خـــوړلے ګـــوزار ســـتا د بنګـــړو
تـــر مرګـــه کـــوي خـــود بـــه انتظـــار ســـتا د بنګـــړو

زړګـي چــې ســتا د حســن د دربــاري ســلامي وکــه
پـه خـوب کښـې دې هـم اوري شـړنګار سـتا د بنګړو

دنيا کـه ليچـې ليچـې شـي، نظـر بنګـړي بنګـړي شـي
ثـــاني بـــه پېـــدا نـــۀ شـــي د ســـنګار ســـتا د بنګـــړو

کـــۀ شـــپه تـــوره تيـــارۀ وي او بـــې شـــمېره ارمانونـــه
دوکـــه بـــه چـــړې نـــۀ شـــمه پـــه شـــمار ســـتا د بنګـــړو

پـه تېـل کښـې د همزولو يې زما پـه عشق کښـې دل کړه
شــــېدا نـــور محمــــد ذمــــه وار ســــتا د بنګــــړو

●●●

يـــاره! مينـــه دي د عشـــق آبِ حيـــات د ے
غمـازانو تـرې جـوړ کـړے لـو ے فسـات د ے

طالبـانو پکښـې هـيڅ څـۀ پيـدا نـۀ کـړه
کـور دې نۀ د ے د مير ديـن کاکا جمات د ے

غټـې وريـژې کـه مــې خوښـې دي جانانـه
خولۀ مې سوزې مرچکے پکښې لږ زيات د ے

ډېر زيات تنګ يم يار ه! ستا د دوستانو نه
چې يو يار دې د کابل د ے بل د سوات د ے

پـه شـعرونو کښـې دې هـيڅ څـۀ مـزه نشـته
سـر دې ځکـه پـه پـردۍ جګـړه مـات د ے

●●●

چې چيندخه په سيالۍ شوه د اسونو
راغله ودرېده قطار کښې د نعلونو

د لوهار په خولۀ يې هيڅ عمل ونۀ کړو
خو ګوزار ته ټينګه نۀ شوه د مېخونو

هغه ورځې چې د ويرې نۀ په دؤ شوه
لا تراوسه پورې ګرځي په ټوپونو

ټره ټره يې د ټول عمر عادت شو
کۀ وښکي يې دواړه راغلۀ تر غوږونو

ډاکټرانو چې پرې ښۀ تجربې وکړې
اوس اوده شوه د شېدا په دې شعرونو

●●●

روغ مـې نـهٔ پرېـږدي د بِـل او د کـرۍ غــم
څــه بـــه وکړمـــه د خپلـــې ښــا پېرۍ غـــم

پـــه تکـــل دګلـــو لاړ شـــم بـــاغیچې تـــه
د ګلونـو پـه ځـا ے راوړم تـرې شـکرۍ غـم

غم ښادۍ کښې په سکون کښېنا ستے نهٔ شم
همېشــــه وي راســـره د مــــزدورۍ غــــم

ســـر تـــر پایـــه هســـې ډک د غمـــه ګـــرځم
کلـــه کلـــه خـــو مـــې راشـــي تـــر مـــرۍ غـــم

شــــاعري زمــــا د عمــــر بیمــــاري ده
زمـــا نشــــته د ے د بلـــې بیمـــارۍ غـــم

چــې بــل غــم پــرې اثــر نــهٔ کــوي د ســره
نـور محمـده! څـومره خـوږ د ے د یـارۍ غـم

●●●

هغـــــه ښـــــکلې زمانـــــه وه
یـــو روپـــۍ وه یـــو انـــه وه

لـس پـورتۍ پـه یـو روپـۍ وې
روپـــۍ هـــم دومـــره درنـــه وه

پـــه هـــر ځـــای ورورولـــي وه
پـــه هـــر ځـــای صـــداقت وو
ورورولـــي بـــه ورورولـــي وه
یارانـــــه پـــــه یارانـــــه وه

په دې ټول پېښـور ښـار کښـې
صـرف یــو سـرفراز خـان وو
هـم پـه ځـای بـه فېصـله وه
هـم پـه ځـای بـه جرمانـه وه

یـو سـاده سـاده ژونـدون وو
یـــو ســـاده ســـاده لبـــاس وو
نۀ په لاره کښې ګند پروت وو
نـــۀ بـــازار کښـــې زنانـــه وه

●●●

ورونو صرف دا سې نهٔ ده چې کشمير دے
مسلمان چې چرته دے اخته په وير دے

کهٔ البروک وايي دلته دربم فرد غريب دے
زهٔ خو وايم چې زرم فرد امير دے

دلته هر يو مجاهد مردِ ميدان دے
لکه څنګه چې ډاکټر عبدالقدير دے

هر يو فرد يو کړۍ د دې زنځير ده
مسلمان په حقيقت کښې يو زنځير دے

هر يو څاڅکے به د خپل وطن نه زار کړي
نور محمد شېدا کهٔ هر څومره فقير دے

●●●

اے زما د زړۀ خواهشه!
يا سم ويښ شه يا اودۀ شه
يا واورې غونډې يخ شه
يا د اور غونډې لمبه شه
زۀ دې ويستې يم د کاره
بس هم ستا په مشغولا يم
نۀ په ځان نۀ په ګناه يم
ناقريبه منزلونو کړمه سترے په ژړا يم
ناپايابه سمندر کښې مجبورۍ نه لامبوزن شوم
د چا سترګو کښې ورک سپک شوم
د چا سترګو کښې تورزن شوم

●●●

د اول نـــه چـــې ماشـــوم وم
تـــا مشـــغول کړمـــه پـــه لوبـــه
نابالغـــه ژونـــدون خـــوب وي
چـــې راپاڅېـــدم د خوبـــه
ناصـــحان تـــرې پـــه ژړا وو
لـــه دې داســـې لېونتوبـــه
ســـتا رضـــا کېـــږې رنګینـــي
ارمـــانونو نـــه خـــوږه ده
زۀ پـــرې خـــود یـــم نـــا اتبـــاره
د منـــزل امصـــا خـــو نـــۀ ده
د ژونـدون پـه کـش مکـش کېـږې
کلـه ورځ شـي کلـه شـپه شـي
د خیـالونو پـه محـل کېـږې
کلـه سـاز کلـه نغمـه شـي
تمنـا چـې مـې ژونـدۍ شـي
کلـه ګـل کلـه وږمـه شـي
تـۀ پـه هـیڅ خوشـحاله نـۀ شـوې
اے خواهشـه! بـد حرصـه
د کـاروان حـال رانـه هېـر دے
تـا لوبـوم تـر خپلـه وسـه

ستا په وجه په دنیا کښې
عجیبه شان انتظار دے
که امیر دے که فقیر دے
هر یو جسم ستا غلام دے
ستا مینه کښې مشغول دے
که سحر دے که ماښام دے
هر څوک ستا د عشق رنځور دے
تهٔ د هر سړي طبیب یې
اے خواهشه محبت یې
هم جانان یې هم رقیب یې
د هر چا خپل خپل خواهش دے
دلته ځکه خپلواکي ده
د چا شوندو کښې نرمي وي
د چا خولهٔ کښې چالاکي ده
عملونه زمونږ ګوري
دا دنیا ځکه باقي ده
نور محمد شېدا چې ورک وي
د سوچونو په دنیا کښې
د خواهش په وجه ګوري
ښکلي یار په تمنا کښې

●●●

کـۀ مـې بـېخ تيکـه تيکـه شـو تبرګـي نـه
دا ګيلــه مــې ده د خپــل تــن د لرګــي نــه

ښـۀ بـې غمـه پـېښـور کښـې ګرځېدمـه
څــه خبــر وم د بـــارودو د لـــوګي نـــه

خـو هـم تـا پـه دهماکـه تيکـه کـړم
اوس مـې څـه لـه مـزې اخلـي د زبېرګـي نـه

کـۀ ګيلــه مــې ده هــم تانــه مــې ګيلــه ده
خلـق د خـدا ے نـه غـواړي تـۀ پېرنګـي نـه

که خدا ے راته ځنګل کښې چرته ګېر کړې
خدا ے که څاڅکي اوبۀ در کړم د منګي نه

خـدا ے خبـر چـې دا څـۀ رنګـه بنـده يـې
ستا پـه حقله مې تپـوس وکړو ګونګي نۀ

نـور محمـد شـېدا پـه شـعر څـۀ پـوهېږي
نيمه شپه کښې هسې تنګ وي د زړګي نه

●●●

تــــهٔ بِلونــــه پـــاس کـــوه د اُبامـــه
هغـه ګـوري سـتا پـه کـور کښـې اُسـامه

بې ګنـاه خلق پـه وينو بانـدې رنـګ شـو
داسـې وه مـې ليـده ټـي وي کښـې ډرامـه

شـناخت پکښـې د هـر سـړي کـار نـهٔ دي
زاغـــان ګرځـــي د کـــونترو پـــه جامـــه

داسې ډېر زړونه پـه غم باندې سوري شـو
لکـه څـوک چـې سـوري وکـړي پـه برمـه

زهٔ د خپـل هجـړا دې عقـل تـه حېـران يـم
چـې يـې غوټـه کـړه انګرېـز سـره کولمـه

نور محمد شېدا پـه نيمه شپه کښې لـيکم
نادانـــان ورپســـې ګرځـــي پـــه غرمـــه

●●●

د اصـــلي لعلونــو کــان دے زمــا ملـــک
زمــا زړۀ او زمـــا ځـــان دے زمـــا ملـــک

ملک زما دے زۀ د ملک یم پکښې اوسم
پـــرې نـــازېږم پاکســـتان دے زمـــا ملـــک

اوبـۀ خـور بـه يـې د زړۀ پـه وينـو کومـه
د خپـل تـن نه پـه مـا ګران دے زمـا ملـک

د شـــهيد پـــه ګرمـــو وينـــو تـــازه کېـــږي
لکـــه ګـــل هســـې خنـــدان دے زمـــا ملـــک

چې دې دومره غلو ته ټينګ دے لا تراوسه
دا منـــه چـــې پهلـــوان دے زمـــا ملـــک

پاکســتان کښې پښـور دلـه زاک روډ دے
ګلـــوزي قصـــرِ شـــاهان دے زمـــا ملـــک

●●●

جنډه چې دې اوچته په کور بيا ترلې ده
ليډر جوړې هم ستا خدمت ته ملا ترلې ده

غريبه! ګورې پوې شه تۀ تراوسه لا پوې نۀ شوې
ګرانۍ چې دې په کور کښې مارشل لاء ترلې ده

يو ليډر راغلے ستاسو تابعدار دے
پوهه پرې نۀ يم چې شرير دے کۀ سرشار دے

کۀ هر چا کړه وې زر تر زره يې راوړۍ
يو رسۍ او يو کوتک زما پکار دے

●●●

کۀ سرور د نظر نۀ وے ستا په خيال کښې
زۀ به څه له انښتم د زلفو جال کښې

دا خو تۀ يې چې د خيال نه مبرا يې
زۀ دې هر وخت ساتم په خواب خيال کښې

زۀ بې رنګه شان نغمه يم بې کرنګه
ټول رنګونه چې راغونډ شو ستا جمال کښې

چې باران ستا د ديدن رابانډې وشي
د سپرلي هواته ناست يم پشکال کښې

که څنډ ورکړم ستا غرور به پرې اوبۀ شي
دومره اوښکې مې ترلي دي رومال کښې

شاعري مې ستا د مينې فقيري ده
خېراتونه د ديدن غواړم سوال کښې

●●●

کۀ مې خولۀ شوه جرابه په شاعرۍ کښې
لا مې نشته تجربه په شاعرۍ کښې

چې نۀ خيال او نۀ رديف نۀ قافيه وي
لګي څومره عجيبه په شاعرۍ کښې

د نر زويه! ستا خو خپله ډکشنري ده
بس لفظونه ورتومبه په شاعرۍ کښې

هره ورځ د زړګي غوښې خوره په مينه
نشته نهې چارشنبه په شاعرۍ کښې

نور محمده! چې څۀ ليکې ځان ته ګوره
په چا ځان نۀ کړې بمبه په شاعرۍ کښې

●●●

ډرتې يوه ورځ وئيل ډرتو بګوړه
هر څۀ چې ملا وبړي سيده کور ته روړه

حلال وي که حرام
راوړه کور ته مدام
صرف ځان ته کوه پام
چې پکښې نۀ شې بدنام
مارۀ چې يو په ګېډه دواړه ګرځو به جوړه

د ډرتو په شانې ځوان
چرته نشته په جهان
په نفع په نقصان
به يې پوې نۀ شي بل انسان
اور لګوي په ختهه ورته کښېني په موړه

خو چې لاړ شي په توکل
ګېډه راوړي د شوتل
دنيا ده کۀ ځنګل
هيڅوک نۀ وايي ورته غل
د نر په شانتې ورشي د ماما په بوساړه

د شېدا غريب اشعار
نۀ د خوند دي نۀ د کار
ون تره تار ګرم جوار
د په پيولنډے بازار
تنډے د شېدا خوږ شو د چاچا په تواړه

●●●

## قطعه

کۀ دې ډېرې حربې وکړې په خوارۍ کښې
څه دې جوړه کړه په دومره مزدورۍ کښې

تېکه دار دې پلند پلار نۀ خوشحالېږي
کۀ دا خپله ورته شل ځله شکرۍ کښې

●●●

د چا مړ ورور راغلو سُرخي کښې د چا پلار راغلو
پــه وينــو ســور زمــونږه کلــي تــه اخبــار راغلــو

کــه غــم دې نــۀ وي مشــغولا دپــاره غــم واخلــه
د احتجـــاج دپـــاره پورتـــه شـــه قـــدم واخلـــه
لــږ شــان خبــر زمــا د کلــي او د دې چــم واخلــه
ګينې تۀ هم به داسې پروت يې کۀ دې وار راغلو

اخبار کښې ۀ چې په چينو پسې ړاندۀ شو خلق
اوړۀ ميــرات کــه د اوړو پــه شــان اوړۀ شــو خلــق
چې ښار کښې ګرځي په ژړا به شي چې څۀ شو خلق
خدايــه! زمــا پــه ملــک د څــۀ رنګــه غــدار راغلــو

پــه هــره لار کښــې ځــوکۍ کېــږي خــو د چــا دپــاره
زما پــه خيــال خــو جــوړې ناســت دي مشــغولا دپــاره
چــې څــه راځــي هغــه رارســي د قضــا دپــاره
د بــازار مينــځ تــه د مــواد پــه کمــه لار راغلــو

●●●

زۀ د دې زمـــانې ځـــوان يـــم
نـۀ پـه بـل يم نـۀ پـه ځـان يـم
د دمـــاغو پـــه تېــزۍ کښــې
نـۀ پـه سـود يـم نـۀ پـه زيـان يـم

زۀ اختــه ســر پـــه نشـــو يـــم
نـــــاخبره د پښـــــتو يـــــم
نــيلام شــوے پــۀ روپــو يــم
وايــه خــان چــې بــه د څــو يــم
پــــه يــــو پيالــــه د چـــايو
نـۀ ډېـر ګـران يـم نـۀ ارزان يـم

چې د چا فن جواري وي
هم عادت يې لوفري وي
څه يې په سر ذمه واري وي
څه عظيمه ناچاري وي
بيا به څنګه د دروغو
ځان ته وايي چې خان يم

چې مئين په خپل اشنا شوم
نور محمد ومه شېدا شوم
په عالمو کښې رسوا شوم
خود د خلقو د خندا شوم
بس رښتيا خبره دا ده
که دښمن يم د خپل ځان يم

●●●

سوچ وکړه په صرف تنخوا څۀ کېږي استاذ
په دولس روپۍ يو دړۍ اوړۀ کېږي استاذ

يو ګرانه ګراني، بل ودانې منصوبه بندي ده
کال په کال د هر سړي واړۀ کېږي استاذ

ګرمۍ د پکي غم او يخنۍ کښې د مالوچو
کله يې ګرمي کله سړۀ کېږي استاذ

دا پېښور ښار دے ډېر دولت ورله پکار دے
په يو روپۍ ګلاس پکښې اوبۀ کېږي استاذ

قربان د پاکستان د خود غرضه ادارو نه
پرسان د خوار انسان پکښې ډېر ښۀ کېږي استاذ

تنخوا مې ده معقوله او خرچه مې ضرور لګي
حېران يم زۀ شېدا چې دا به څۀ کېږي استاذ

●●●

یو خرم په جلسه کښې یو ورځ ولیدو، ما وې څه کوې
هغه وې زۀ نامزده امیدوار یم ودرېدلے یم

وګوره چې ملا مې ډېرو پښتو سپینه کړې ده
اوس هم دې جلسې پسې په غلا باندې راغلے یم

ستاسو حق به وروره! په شاتوره تر خپل کوره وړم
زۀ خو خدمتګار یم دې خدمت پسې راغلے یم

ما وئیل چې دلته کښې لیډر خلق په کوتک وهي
دۀ وئیل وروره! کوتک څه کړې زۀ خو هسې خدا ے وهلے یم

ما وئیل خبره د حیا د خندا نۀ شي
دۀ وئیل خبر د ے دې نه مخکښې څو څو ځله شرمېدلے یم

ما وئیل ورځه اسمبلۍ تاته انتظار کوي
دۀ وئیل شاباسې شېدا هم دې خبرې ته خو غلے یم

●●●

کله چې مخې له د ګلو نه نازکه راشي
څه ضرورت وي نو خواله ځکه راشي

زهٔ د ښائسته جانان په خوا کښې ځکه غلے يمه
که رښتيا وايمه د ځانه کرکه راشي

زهٔ د خيالي مومندې خيال سره ځوک نهٔ شريکوم
که اپريدی مې خيال له راشي که خټکه راشي

که زهٔ يې غوارم نو راځي خو لږ په صبر راځي
چې يې خپل زړهٔ غواړي نو تندی باندې چابکه راځي

چې شاعران ورونه مې راشي خوشحالېږم ورته
داسې ګڼم چې د اسمان ستوري په زمکه راشي

زهٔ نور محمد شېدا به ولې تري زارېږمه نه
چې مې تر خوا پورې د خپله ځانه ورکه راشي

●●●

زنـــده بـــاد زنـــده بـاد پاکســـتان زنـــده بـــاد
دا خـــواران زنـــده بـــاد ، غريبانـــان زنـــده بـــاد
چـې د غوښـې پـه نـرخ مـومي الوګـان زنـده بـاد

زمونږ نيمګړے سکول کۀ خدا ے کاندي پوره شي
يـوې ډسپنسرۍ تـه ضـرورت دے کۀ ښکاره شي
پـارک غـواړي لوبغـاړي ماشـومان زنـده بـاد

داسـې بمبـې وروره! مـونږ تـه دلتـه لګېـدلي دي
سـمه زړه غـوا ده جـوړې پـې پکښـې راغلـي دي
تـــږي ورتــه ناســت دي مومنـــان زنـــده بـــاد

يـــو دا د زکـــات روپـــۍ چـــې څـــومره مقـــرر وي
وخـوړې غـټ خېټـو کونـډې کلـه تـرې خبـر وي
چـې ږدي پــه روپــۍ پښــه دا مشــران زنـده بـاد

نـۀ خـو د چـا بـد او نـۀ د بـل سـړي درنـه وېـم
زۀ خـو يـو شـاعر يـم هسـې خپلـه ترانـه وېـم
دا د نـــور محمـــد شـــېدا بيـــان زنـــده بـــاد

●●●

عشق لویه معمه ده، د تمام عمر غوبمه ده
نن سبا خو عشق نشته، تش پاټونه دي ډرامه ده

ټول د پیو مجنونان دي، هر طرف ته هنګامه ده
همګي هوس پرست دي، د لېلا ځکه بغمه ده

یو مُلا په خوب کښې ولید نرۍ روژې او قرمه ده

زر د کټه راګوزار شو، خدایه! دا څنګه غرمه ده
نور محمد شېدا ستا ژبه سم سورے کوي برمه ده

●●●

د عشـــق داســـې مرحلـــه رابانـــدې راغلـــه
زړۀ مې جوش وکړو خوله رابانـدې راغلـه

ســـر مـــې تلـــو راتلـــو پـــه فكـــر د دلبـــرو
وروره! ســـمه زلزلـــه رابانـــدې راغلـــه

محبـت پـه مصـيبت بانـدې عـادت كـړم
چـــې د مينـــې مشـــغله رابانـــدې راغلـــه

بيمـاري مـې سـتا د مينـې جـواري شـوه
مســـئله پـــه مصـــله رابانـــدې راغلـــه

نـــور محمـــد شـــېدا د عشـــق د خـــاطره
څـۀ بـلا پـه چپـه خولـۀ رابانـدې راغلـه

●●●

ځان په خپله به لاهو کړم په دریاب
په موګي به وخت تېر نۀ کړم د قصاب

خپل قمیص کۀ وي ټوټې د پېوندونو
د پردۍ حلقې نه ښۀ وي د کمخواب

دا چې نشته خود يې نۀ څکو نۀ څکو وایو
کوم سړے دے چې به نۀ غواړي شراب

عاشقۍ کښې مې نامه دومره خوره شوه
چې مې یاره خدا ے نصیب کړو لاجواب

عاشقان د عشق په راګ باندې اودۀ کړم
زۀ شېدا چې ګوتې کېږدم په رباب

●●●

يـاره! ګـړۍ پـه ګـړۍ راځـه غـړۍ پـه غـړۍ
درتـه نيـولې دي لاسـونه مـې لـړۍ پـه لـړۍ

د چـا د قصـده مـدام
راځـه سـحر او مابنـام
خبر دے که مور راته ښېرې کوي دړۍ په دړۍ

مـۀ کـړه خطـر لاليـه!
دومـره د سـر لاليـه!
عشـق د مينـې امتحـان اخلـي ګـړۍ پـه ګـړۍ

چانـه ويربـږې څـه لـه
لار کښې ودرېږې څه له
د عشق دار ته خلق تـل خېـژي پـوړۍ پـه پـوړۍ

ستـا پـه ښـکلا مـې قسـم
سـتا پـه وفـا مـې قسـم
د نور محمد شـېدا شعرونه وي کړۍ پـه کړۍ

●●●

نور عالم کۀ چرته بشکه یا شړشم خوري
عاشقان د زلفو څوکې د صنم خوري

دا خو نۀ ده چې عاشق غریب څۀ نۀ خوري
زمانې نه پېغورونه دم په دم خوري

د ربېار نوکري ختمه کړه موبائیل
رقیبان دې په مړه ګېډه قسم خوري

غاصبانو خېټه ډکه کړه په غصب
کۀ په قبر کښې یې مار کۀ یې لړم خوري

عاشقانو مینه وکړئ لږ ساعت دے
هر یو ټک د ګړۍ عمر لکه مم خوري

نور محمد شېدا د عشق په سولۍ سور دے
ځان نه زړۀ هسې په څوکه د قلم خوري

●●●

چې قابض مې په زړۀ ستا د مينې خيال شي
رنګ د عشق مې په اسمان د ګوډې تال شي

هغه څۀ په لطافت د ژوند پوهېږي
بې قصوره چې د لر په شان حلال شي

زولنې مې ستا د زلفو پېچ و خم دے
کله کله خو قفس شي کله جال شي

يار مې پټ شان زړۀ ته راشي ما راويښ کړي
چې سماج راته په مخه کښې دېوال شي

شريعت کښې دا درې فرده ضروري دي
يو مُلا دوېم ګواه درېم دلال شي

تور مخ ښۀ وي خو په زړۀ چې سړے سپين وي
هغه تور د فرښتو په تندي خال شي

کۀ منصور وي کۀ بلال او کۀ مجنون وي
نور محمد شېدا به دوي سره څۀ سيال شي

●●●

دا ساده ساده چې ښکاري لېونې لېونې ګرځي
دا زما د زړۀ اواز دے، دا زما د قوم شاعر دے

لېونې لېونې ګرځي همېشه د بل په غم کښې
د خپل زړۀ په رڼا ګرځي، د وختونو په ستم کښې
ملغلرې راوباسي په کاغذ او په قلم کښې
دا زما د مينې کان کۀ د عشق فلاسفر دے
دا زما د زړۀ اواز دے، دا زما د قوم شاعر دے

باريکانو نه ښۀ خبر دے محبت باندې پوهېږي
د اشنا د تورو سترګو په قيمت باندې پوهېږي
د راحت څۀ عادت نۀ دے، مصيبت باندې پوهېږي
کۀ خوشحال دے کۀ رحمان دے، ارزاني کۀ قلندر دے

تش په ژبه پښتو وايي د کلتور نه خبر نۀ دي
دوي د خپلو مشرانو د دستور نه خبر نۀ دي
د څاوري په شان د عقل او شعور نه خبر نۀ دي
دا په کومه کنده سر دے دا څۀ شي دانشور دے

●●●

يــا الهٰــی تــهٔ کــړې پــوره د زړهٔ ارمــان زمــا
شــپې ورځـــې تېرېـــږي پـــه خفګـــان زمـــا

هســـې کـــهٔ خلــق شـــته پـــه جهـــان کښـــې
د هـــــر چمـــــن پـــــه ګلســـــتان کښـــــې
د خوبرويـــــانو پـــــه مېـــــدان کښـــــې
پــه دې دنيــا کښــې ثــاني نشــته د جانــان زمــا

نـــــوراني شـــــمع د وحـــــدت ده ربـــــه!
عطيـــــه ســـــتا د عنايـــــت ده ربـــــه!
يـــــو تجلـــــه دې د رحمـــــت ده ربـــــه!
بــې عشــقه نــهٔ کېــږي ســکون او اطمينــان زمــا

خدايـــــه! دا دې لــــوے احســـــان دے
نــــوم دې راکـــــړے مســــــلمان دے
غـــوره د هــــر څــــهٔ نــــه ايمـــان دے
د زړګـــي ټولـــه تســـلي ده په ايمـــان زمـــا

نــــهٔ مــــې ګيلــــه ده د قســــمت نــــه
نــــهٔ بِحــــره منــــد يــــم د دولــــت نــــه
نــــهٔ نــــا اميــــده د رحمــــت نــــه
صـبر تمـام شـي اوښـکې راشـي په ګرېـوان زمـا

●●●

هغه جانان چې پرې روښان دے ټول جهان
يا ربه! تانه دربار غواړم د جانان

خدايه! يو ځل کۀ ورله لاړم
ورته به ډېر په زار بار ژاړم
د ګمراهانو رهنما نبي ﷺ سلطان
يا رپه! تانه دربار غواړم د جانان

خدايه! پوره مې دا ارمان کړې
په خپل کرم مې ورروان کړې
په ژوندګۍ مې کړې پوره د زړۀ ارمان
يا ربه! تانه دربار غواړم د جانان

د هغه پاک حبيب د مخه
وکړې زما د زړګي خوښه
په تور لحد کښې مې ملګرے کړه قرآن
يا ربه! تانه دربار غواړم د جانان

عمر مې تېر شو په ګرون کښې
په دې حسرت او په بېلتون کښې
د بيت الله نه دې زاربږي عاشقان
يا ربه! تانه دربار غواړم د جانان

مـــال او ســــر مــــې پــــرې قربـــان شـــه
پـــه اوښـــکو تـــر زمـــا ګرېـــوان شـــه
پـــه فرقـــت کښـــې د نبـــي ﷺ اخـــر زمـــان
يـــا ربـــه! تانـــه دربـــار غـــواړم د جانـــان

پـــــه انتظـــــار انتظـــــار تېـــــر شـــــو
پـــوهېږم غـــم مـــې د زړهٔ ډېـــر شـــو
د زنـدګۍ پـه مـزه پـوې نـهٔ شـوم د ځـان
يـــا ربـــه! تانـــه دربـــار غـــواړم د جانـــان

خدايـــه! قبـــول مـــې د زړهٔ ســـوال کـــړې
مـــا هـــم ســـبرابه پـــه وصـــال کـــړې
ايمـان افـروز دربـار چـې ګـورم د سـلطان
يـــا ربـــه! تانـــه دربـــار غـــواړم د جانـــان

زهٔ نـــور محمـــد شـــېدا فقيـــر يـــم
حـــال تـــه مـــې وګـــوره ظهيـــر يـــم
خدايـه! يـو ځـل مـې کـړې پـوره د زړهٔ ارمـان
يـــا ربـــه! تانـــه دربـــار غـــواړم د جانـــان

●●●

# قطعه

هر یو لیډر ښهٔ وي الېکشن نه مخکښې مخکښې
مریض خلق اوږے کوي د اپرېشن نه مخکښې مخکښې

دلال کهٔ قسم ونهٔ خوري د لوږې نه به مړ شي
سړي ته ښکاري پلار د کمېشن نه مخکښې مخکښې

●●●

# قطعه

که دې ډېرې حربې وکړې په خوارۍ کښې
څهٔ دې جوړه کړه په دومره مزدورۍ کښې

ټېکیدار دې پلندر پلار نهٔ خوشحالېږي
کهٔ دا خپله ورته شل ځله شکرۍ کښې

●●●

# قطعه

ووټ ورکه غریبه! چې څرمن درنه اُتاره کړي
چې ګرځې لفنګې خپله بې بې درنه وېزاره کړي
روزګار چې دې تباه شي د ګرانۍ څۀ پته نۀ لګي
چې ګرځې مزدورۍ پسې او ښۀ دې بې روزګاره کړي

●●●

# قطعه

زۀ زخمي د زمانې په ستم ښۀ یم
چې نصیب مې شو انعام د شهادت
چې د وسه دې وي حمد ثناء وایه
ماله وغواړه دعا د مغفرت

●●●

# قطعه

تاج د شهادت چې زما کوم وختې په سر وي
په خلقو به محشر وي خو په ما به لوے اختر وي
ډالۍ د خپلو وینو چې د رب په در کښې کېږدم
په تله د اعمالو به مې وزن برابر وي

●●●

په وادهٔ يې لګېدلې ډېر رقم دے
وروره! ناوې ده کهٔ سم د عمر غم دے

چغړبه يې چې په لار کښې اورېدے شي
څهٔ وړه خبره نهٔ ده اېټم بم دے

هوارے به کور کښې رانهٔ ولې چرې
دا خوړلې يې په پير بابا قسم دے

وې چې دواړه زما خوښ نهٔ دي د سره
تا که بشکه ده راوړې که شړشم دے

دا بدبخته ترې تراوسه وزګار نهٔ شو
نهٔ پوهېږم دا وادهٔ ؤ کهٔ ماتم دے

د وادهٔ زلمي شېدا ته داسې ووې
لا د مېکپ سامان هم پکښې لږ کم دے

●●●

په غیرت باندې د خپله سره تېر یم
زهٔ کهٔ شېر یم خو مجبور یمه اوس ګېر یم

بې غېرته کهٔ په ګوتو باندې راغلهٔ
په والله چې زهٔ یواځې ورله ډېر یم

خو کهٔ من کانړے په وزن ملاوېږي
زهٔ په دې خوشحاله یمه چې زهٔ سېر یم

کهٔ دوستانو ته د شهدو غوندې خوږ یم
د دښمن په خولهٔ کښې زهر او ګنډېر یم

نور محمد شېدا پوهه نهٔ شومه تراوسه
چې حرف باندې زور یمه کهٔ زېر یم

●●●

# قطعه

داسې مړ شه چې تهٔ خاندې خلق ژاړي
داسې مهٔ مره چې پناه درنه خلق غواړي

هغه نهٔ چې مصيبت درله پېدا کړي
زوے هغه چې تابعدار درته ولاړ وي

●●●

# قطعه

کهٔ د ګټې او تاوان خبره ده
د رقيب او د جانان خبره ده

کهٔ د مچ او جولا يو هومره وجود دے
د هندو او مسلمان خبره

●●●

# هم دا پېښور

رڼا رڼا پېښور، زما او ستا پېښور
چرته چې لاړ شمه يادېږي مې هم دا پېښور

په دې وطن زما ورونه عزيزان اوسېږي
هر يو طرف ته ښکلي شاعران اوسېږي
د پاکې مينې طلبګار دې مومنان اوسېږي
دا په ګلونو مزين دے بې بها پېښور
چرته چې لاړ شمه يادېږي مې هم دا پېښور

زمونږ وطن دے په دې زمکه زېږېدلي یو مونږ
خپلو دوستانو سره یو ځاے لوېدلي یو مونږ
په قربانو مونږه خپل کړې ده ګټلي یو مونږ
چې مشهور دے په دنیا د پښتونخوا پېښور
چرته چې لاړ شمه یادېږي مې هم دا پېښور

غرونه باغونه، ډک سیندونه چمنونه لري
ښکلي ځوانان محبتونه ایمانونه لري
ښکلې نغمې د محبت او سرودونه لري
تل دې تازه لکه د ګل وي د شېدا پېښور
چرته چې لاړ شمه یادېږي مې هم دا پېښور

●●●

ګلـــه! د ســـترګو دې بـــې کچـــه احتـــرام کـــوم
چـــې تـــهٔ يـــې پېژنـــې د هغـــو خلقـــو ســـلام کـــوم

ژوبـل ضـمير راتـه پـه جبـر او پـه جـار ووئيـل
تــهٔ ارام غــوارې زهٔ دې نــور څــهٔ انتظــام کــوم

نـورو غمونـو تـه خـو ډېره داسـې نـهٔ نيسـم خـو
د جانـــان غمـــه! تـــهٔ راځـــه تاتـــه ســـلام کـــوم

په محبت کښې خو هيڅ سکون موندلے نهٔ دے
دغــــه تپــــوس بــــه د اقــــا نــــه د غــــلام کــــوم

د ورځـې غـم د مـزدورۍ او د شـپې سـتا غمونـه
عشـقه! د دې نـه زيـات بـه زهٔ څـومره ناکـام کـوم

د نـور محمـد شـېدا غوښـې خـو خـوره پـه مينـه
دې نـه سـېوا بـه مېلمسـتيا پـه کـوم طعـام کـوم

●●●

لاړه ډبګـــــرۍ نـــــه مقـــــرره پـــــه رامـــــداس شـــــوه
بیــا دې ومبــارک شــه تــرور دې بــې ووتونــو پــاس شــوه

اوس بــه تــولې لارې او کــوڅې پــه خپلــه ســمې شــي
خوښدې چې خوشـحاله شي او ګډې پکښـې شـمعې شـي
تــــه راغلــــې جلســــې پســــې جلســــه لاړه برخــــاس شــــوه
بیــا دې ومبــارک شــه تــرور دې بــې ووتونــو پــاس شــوه

نښــه یــې چپلــې وې خــو وخــت نــه مخکښــې خرڅــې شــوې
رنګ شوې کۀ بدرنګ شوې کۀ باچا شوې او که هر څۀ شوې
نـــــن ســـــبا اشـــــنا زمانـــــه ډکـــــه د لبـــــاس شـــــوه
بیــا دې ومبــارک شــه تــرور دې بــې ووتونــو پــاس شــوه

غم فکر ونۀ کړې دواړه لاسه دې غوړو کښې دي
ښځو پسې ګرځه چا څۀ مونده پۀ سړو کښې دي
د ترږي جل وهلي يارانه پۀ يو ګلاس شوه
بيا دې ومبارک شه ترور دې بې ووتونو پاس شوه

تا د نور محمد شېدا خبرې اورېدلي دي
دا ښځې ترې نه ښۀ دي دا خو هر سړي منلي دي
والله چې خبر دې نشته کۀ خبره پۀ قصاص شوه
بيا دې ومبارک شه ترور دې بې ووتونو پاس شوه

●●●

## قطعه

يــو ليــډر ووئيــل کــۀ خپــري زۀ بــه کېــږم
مــا وئيــل تــۀ لا تراوســه شــوے نــۀ يــې

ستا ضرور به پکښې څۀ نا څۀ مطلب وي
تــۀ د قــوم د غمــه دومــره ســوے نــۀ يــې

●●●

## قطعه

چې څنګه يې پجلي ده بس هم دغه رنګ به ګېس وي
خو دواړه لېوني دي کۀ مجنون دے او کۀ قېس وي

ټولــه پښــتونخوا د تعصــب د لانــدې ګېــره ده
اينجنړ به د ګرانۍ وي چې غريب ورلاندې پرېس وي

●●●

پنځـۀ کالـه کښـې مـوږ نـۀ شـوې تـر مـرۍ
د خوارانــو نــه يــې ډ کــې کــړې بــورۍ

کۀ دې خوښـه وي نـو ښـۀ يـې خمبيـره کـړه
چــې نامــه وانخلــې بيــا د ناچــارۍ

د بجلــۍ دلاســه ډېــر کارونــه وران شــو
هــا ے توبـه مـې شـه د دې بـې روزګـارۍ

لکــه زۀ ســره د هنــره خوشــې ګــرځم
دغــه حــال د ے د هرچــا د مجبــورۍ

تېکيدار صيبه! کۀ ښکلې بنګله غواړې
کېــږده پښــه د مزدورانــو پــه مــرۍ

مزدورانـو پـه ګيلـه کښـې داسـې ووې
چـې تـر کـومې بـه ګرځـؤ د غـم شـکرۍ

نــور محمــد شــېدا د دې ګرانــۍ دلاســه
داســې زغلــې لکــه اســپه لائــل پــورۍ

●●●

زهٔ چې وګورم دې خپل نیمګړي کور ته
وېم چې خپل قسمت مې وغورځولې اور ته

مزدوري پسې تمامه ورځ ورک یم
سترې ستړې لکه مړې کړم لاس پور ته

وېم چې خدایه د حرامو نه مې بچ کړې
په حلال رزق مې ورسوه ګور ته

بل مقصد مې د ژوندون ملګرو! نشته
مغفرت غواړمه پلار او خپلې مور ته

نور محمد شېدا د زړهٔ په وینو لیکم
دا پېغام به یوسي څوک د سترګو تور ته

●●●

مــا خــو وئيــل ډېــره ښائســته ده مزېــداره بــه وي
خبــر تــرې نــۀ وم د دارو جالــه ده بيمــاره بــه وي

د مـور مـې هـيڅ څـۀ ګناه نشـته پـه دې پـوهې يمـه زۀ
ژبـــه د دې ډېـــره اوږده ده ګناهګـــاره بـــه وي

د دوارو ښـځو يـو انګـڼ کښـې ګـوزاره نـۀ کېـږي
ښـــۀ دي جـــدا د دوارو خپلـــه خپلـــه لاره بـــه وي

چې اوبۀ ډنډ شي نو بوي پرېږدي دا خو هر څوک مني
خـو چـې وادۀ تـه غـاړه ږدي پـه څـۀ ناچـاره بـه وي

●●●

## شاپانه

نور محمد شېدا د داؤدزو د علاقې یو خوږ ژبے شاعر دے چې په خوا شا کښې د خپلو ادبي سرګرمیو تر مخه شهرت او مقبولیت لري. څنګه چې په عام ژوند کښې ساده او سادګي پسند دے، دغسې شاعري یې هم ساده او د کلیوال ژوند عکس او نقش لري. ژبه یې اسانه او روانه ده او فطري حسن لري، تصنع او بناوټ نه پاکه د سوچه او رښتوني جذبو او ښائسته احساساتو شاعري ده. د في البدیهه شاعرۍ شهرت هم لري او د طنز و مزاح په مېدان کښې یې نوم پېدا کړے دے چې خوښ کړے شوے او منلے شوے دے.

سلیم راز